وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا

# د قرآن ترتیل

## په اسانه تجوید

مؤلف: مفتي جمعه خان «اصف»

کال: ۱۴۴۵ ق

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library


## د کتاب ځانګړتیاوې

**د قرآن ترتیل په اسانه تجوید**

**مؤلف:** مفتي جمعه خان «اصف»

**ډیزاین:** عطاءالرحمن سعید

**چاپ وار:** لومړی

**چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپځی:** شبیر طباعتي شرکت

**چاپ کال:** ۱۴۰۳ لمریز/۱۴۴۵ هـ.ق

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

# تمهيد

الحمد الله القائل في كتابه الكريم: «إِنَّ هَـٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا».[1]

والصلاة والسلام على خاتم أنبيــائه ورسوله، القائل فيما صح عنه: (خير كــم من تعلم القرآن وعلَّمه)[2]

قال: رسولﷺ (مَنْ قَرَأَ حَرْفاً مِنْ كِتاب الله فَلَهُ حَسَنَة، والحَسَنَة بِعَشْرِ أَمْثَالِها، لا أقول: ألم حَرفٌ، ولكِنْ: ألِفٌ حَرْفٌ، ولاَمٌ حَرْفٌ، ومِيمٌ حَرْفٌ). [صحيح] - (رواه الترمذي).[3]

---

(١) سورت اسراء، آية ٩.

(٢) رواه البخاري، ٦/١٩٢.

(٣) رواه الترمذي، فضائل القرآن.

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک

**لومړی درس**.............................. ۴
د تجوید ثبوت او ډولونه

**دویم درس** .............................. ٦
د مصنف (رح) تعریف

**دریيم درس** .............................. ۸
تر تجوید مخکې ښېګڼې

**څلورم درس** .............................. ۱۰
د لحن بیان

**پنځم درس**.............................. ۱۱
د لحن جلي او خفي بیان

**شپږم درس** .............................. ۱۴
د أعوذ بالله بیان

**اووم درس** .............................. ۱٦
د بسم الله بیان

**اتم درس**.............................. ۱۸
په دغو دريیو ځایونو کې د څلورو حکمونو جاري کول

**نهم درس**.............................. ۲۰
د سورت انفال قواعد

**لسم درس** .............................. ۲۱
د مخارجو بیان

**یوولسم درس** .............................. ۲۴
د مخارجو تقسیم

**دوولسم درس**.............................. ۲۵
د غاښو تفصیل

**دیارلسم درس** .............................. ۲۸
د ژبې تقسیم

**څوارلسم درس**.............................. ۳۲
د صفاتو بحث

**پنځلسم درس** .............................. ۳۳
د صفاتو نومان: «لازیمه، ذاتیه، ممیّزه، موقومه.»

**شپاړسم درس** .............................. ۳٦
فایده: د شدت او رخوت ترمنځ د توسط بل صفت هم سته

**اوولسم درس**.............................. ۳۹
د دغو څلورو صفاتو (استعلاء، استفال، اطباق، انفتاح) پر بنیاد ټول حروف پر درې ډوله دي:

**اتلسم درس** .............................. ۴۱
غیر متضاد صفات

**نولسم درس**.............................. ۴۳
فایده: قلقه پر ۵ برخو وېشل سوې ده

**شلم درس** .............................. ۴٦
استطالت

**یوویشتم درس**.............................. ۴۹
صفات ممیزه

**دوه ویشتم درس** .............................. ۵۰
غیر مشهور صفات لازمه

**درویشتم درس** .............................. ۵۲
عارضیه صفات

ketabton.com - The Digital Library


**څلورویشتم درس** ........................ ۵۵
حرکت

**پنځه ویشتم درس** ........................ ۵٦
تفخیم او ترقیق

**شپږویشتم درس** ........................ ۵۷
لام

**اوه ویشتم درس** ........................ ٦۰
د (ر) بیان

**اته ویشتم درس** ........................ ٦۳
غُنه

**نهه ویشتم درس** ........................ ٦۵
میم ساکن

**دیرشم درس** ........................ ٦۸
نون ساکن

**یو دیرشم درس** ........................ ۷۱
ادغام

**دوه دیرشم درس** ........................ ۷۲
هاء ضمیر

**دري دیرشم درس** ........................ ۷۵
همزه

**څلور دیرشم درس** ........................ ۷۷
همزه

**پنځه دیرشم درس** ........................ ۷۹
ادغام

**شپږ دیرشم درس** ........................ ۸۲
اجتماع ساکنین

**اووه دېرشم درس** ........................ ۸۴
مـــد

**اته دېرشم درس** ........................ ۸۷
د مد اصلي ډولونه

**نهه دېرشم درس** ........................ ۸۹
د مـــد بحث

**څلوېښتم درس** ........................ ۹۳
وقف

**یو څلوېښتم درس** ........................ ۹۵
د رموزو په اعتبار وقف

**دوه څلوېښتم درس** ........................ ۹۹
د موقوف علیه د حرکت په اعتبار وقف پر اته ډوله دی:

**دري څلوېښتم درس** ........................ ۱۰۲
د قاري په اعتبار وقف په څلور ډوله دی

**څلور څلوېښتم درس** ........................ ۱۰۳
د معنا په اعتبار وقف پر شپږ ډوله دی

**پنځه څلوېښتم درس** ........................ ۱۰۵
لهجه

**شپږ څلوېښتم درس** ........................ ۱۰۷
د معیوبو تلاوتونو اقسام

**اووه څلوېښتم درس** ........................ ۱۱۰
متفرقه قواعد

**اته څلوېښتم درس** ........................ ۱۱۱
متفرقه قواعد

**نهه څلوېښتم درس** ........................ ۱۱۵
سجده تلاوت

ketabton.com - The Digital Library

# تقریظ

قرآنکریم چې د الله جل جلاله ستر او عظیم کتاب دی او د انسانانو د لارښوونې لپاره رالیږل شوی دی د هر مسلمان لپاره په کار ده چې په صحیح توګه یې زده کړي، ترڅو له یوې خوا خپل مسئولیت ادا او له بلې خوا له هغو سترو امتیازاتو څخه برخمن سي چې د قرآنکریم په زده کولو، ښودلو او تلاوت کولو کې موجود دي. الله جل جلاله فرمایي: ﴿وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا﴾ او قرآنکریم په ترتیل سره تلاوت کړه. حضرت علي رضی الله عنه د ترتیل معنا په دې ډول کړې ده: الترتيل هو تجويد الحروف ومعرفة وقوف یعنې له ترتیل څخه مراد د حروفو تجوید او د وقفونو پېژندل دي. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث شریف کې فرمایلي دي: (خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ.) په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې قرانکریم په خپله زده کړي او نورو ته یې وښیي. په یوه بل حدیث شریف کې راغلي دي: مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا ، لاَ أَقُولُ الْم حَرْفٌ ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلاَمٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ. یعنې که څوک د الله تعالی د کتاب یو حرف ووایي؛ نو ده ته نیکي ورکول کېږي او دغه نیکي به یې په لس چنده ورکړل شي، زه دا نه وایم چې الم یو حرف دی الف بېل حرف دی، لام بېل حرف او میم بېل حرف دی. خو د دې لپاره یو شرط دا دی چې قرانکریم صحیح او په تجوید سره ولوستل شي. که د حروفو صحیح تلفظ ونه شي؛ نو د ثواب پر ځای به د عذاب سبب وګرځي. له دې څخه جوته شوه چې د تجوید علم زده کول څومره مهم دي، په کار ده چې هر مسلمان یې زده کړي. د تجوید همدا کتاب چې ستاسو په لاسونو کې دی، په دې کې د تجوید د

ketabton.com - The Digital Library

علم ټول اصول او قواعد په ښه ډول راټول شوي دي. زيات زحمت پرې ايستل سوی او ليکوال يې هڅه کړې ده چې د تجويد علم په ساده او اسانه ژبه تاسو ته وړاندې کړي او داسې يې کتاب ليکلی چې که هر طالب علم وغواړي چې تجويد زده کړي، په قواعدو يې پوه شي، نو له دې کتاب څخه دې ګټه پورته کړي. کولای شي له دې مهم کتاب څخه په ګټې اخيستنې سره په لنډه موده کې تجويد زده او قرانکريم په سم ډول تلاوت کړي. په پای کې له ټولو طالبانو او زده کوونکو څخه غواړم چې د نورو علومو ترڅنګ دې د تجويد علم حتماً زده کړي، ځکه چې د دې علم په برکت موږ کولای شو د الله تعالی ج ستر کتاب قران کريم لکه څنګه چې نازل شوی دی هماغسې تلاوت کړو او په دې برخه کې له تېروتنو څخه ځان وساتو. په دې سره به مو دين او دنيا دواړه روښانه او اجر او ثواب به مو په برخه شي.

ومن الله توفيق

**الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند**

۱۴۴۵ق، شعبان المعظم، کابل

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

د لوی او لایزال خدای جل جلاله حمد او شکر دی چې انسان یې په احسن تقویم کې پیدا کړی او د خبرو کولو توان او توفیق یې ورکړی او د علم او فکر په ګاڼه یې سمبال کړی دی. درود او سلام دې وي د اسلام پر ستر لاربنود پیغمبر حضرت محمد (ص) چې د انسانیت ستر ښوونکی دی.

جوته ده چې هر علم له ځانګړي اهمیت څخه برخمن دی او په خپل ځای کې یې زده کړه مهمه او ضروري ده. علم د پوهېدلو، یقین کولو، پېژندلو او یادولو په معنا دی. پوهان علم داسې تعریفوي، العلم نور والجهل ظلمة. یعنې علم رڼا او جَهل تیاره ده. د علم په زدکړې سره د انسان په سلوک او کړنو کې بدلون راځي. علم د انسان لپاره کمال دی او په علم سره انسان پرې مشرفه ګرځي لکه څنګه چې الله تعالی جل جلاله فرمایلي دي: (قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لا يَعْلَمُونَ).

څښتن تعالی ج د ټولو انسانانو پلار ادم (ع) ته لومړی د یادلو امر وفرمایلو: (وعلم ادم الاسماء کلها) ژباړه: الله (ج) ادم (ع) ته د ټولو شیانو نومونه ور زدکړل. د اسلام دین خپل پیروان د بېلا بېلو علومو زده کولو ته هڅوي، څو مسلمانان علم حاصل کړي. د علم په وسیله خپل ژوند لوړو درجو ته ورسوي، خپل مطلب او صحي لاره پیدا کړي او له بې لارۍ او تېروتنو څخه لرې پاتې سي.

د دې علومو په منځ کې یو هم د تجوید علم دی. د تجوید په زدکړې سره انسان ته دا امکان په لاس ورځي چې په ښکلي، فصیح او زړه راښکونکي ډول قرانکریم تلاوت کړي. د دې علم حکم: تطبیق د قواعدو په قرائت کې فرض عین او تلاوت یې فرض کفایي دی. موخه یې بیا د قران کریم لوستل په

ketabton.com - The Digital Library

سمه توګه لکه څنګه به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابو کرامو ته قرانکریم لوستلو او دوی ته به یې د تجوید اړوند قواعد ښودل، یعنې د قرائت د احکامو حفاظت کول، لکه ادغام، اظهار، اقلاب، اخفا، مد، غنه، وقف، چې باید په خپل ځای کې عملي او حروف له خپل مخرج څخه اداء سي، یعنې د تجوید د ټولو احکامو په نظر کې نیولو سره د قرانکریم واضح لوستل دي. له دې څخه جوته سوه چې د تجوید علم زده کول زیات مهم دي. لامل یې دا دی چې که څوک غواړي الهي کلام ولولي؛ باید هغسې یې ولولي او قرائت یې کړي، لکه څنګه چې نازل سوی دی. د قران کریم په تلاوت کې ځان له هغو تېروتنو وژغوري چې د ثواب پر ځای یې ګناه زیاته وي. د دې لپاره اړینه ده چې هر مسلمان (نارینه او ښځینه) تجوید زده او بیا ترې د قرانکریم په تلاوت کې ګټه پورته کړي او قرانکریم په سم او صحیح ډول تلاوت کړي.

دا کتاب «د قران کریم ترتیل په اسانه تجوید» چې ستاسو په لاسونو کې دی، هڅه سوې چې په ډېره اسانه او ساده طریقه تاسو ته تجوید وښودل سي او تاسې ترې پوره ګټه پورته کړئ. هڅه دا ده چې موږ غواړو، یو مهم کتاب چې زدکړه یې هر مسلمان ته اړینه ده، تاسو ته وړاندې کړو او تاسو یې په لوستلو سره دغه مهم علم زده کړئ چې ګټه یې تاسې ته در ورسیږي.

د کتاب په لیکلو کې پوره دقت سوی، له ډېر زیار او کوشش او همدارنګه د هېواد د علم دوست او د دوه جهادونو سردار محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له هڅونې او بشپړ معنوي ملاتړ وروسته چاپ ته چمتو سو. ددې کتاب د چاپ مالي لګښت فرهنګپال او علم دوست شخصیت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په غاړه واخیست. زه د زړه له تله ددې ستر او علم دوست شخصیت څخه مننه کوم چې زما دغه اثر یې د چاپ په زېور ښکلی او دادی اوس ستاسو تر لاسه ورسېد.

ketabton.com - The Digital Library



# د قرآن الکریم د تلاوت اداب

**قاعده:** دتلاوت په وخت کی باید سړی پټه خوله پاته سي.

**دلیل:** وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ [الأعراف:۲۰۴].

**قاعده:** تلاوت باید په اوداسه سره اوسي.

**دلیل:** لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ [الواقعة:۷۹].

**قاعده:** تلاوت ته باید مسواک استعمال سي.

**دلیل:** طَيِّبوا اَفواهَکُم بِالسَّواکِ، فَاِنَّها طُرُقُ القُرآن [الحدیث].[۱]

**قاعده:** باید قران کریم په شایسته اواز او په تطبیق سره د احکامو د تلاوت.

**دلیل:** (وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلا) الآية ۴ من سورة المزمل

**قاعده:** باید د هغه شي څخه ځان وساتل شي چې ستا مقصود ته زیان رسوي، مثلاً خندا، ساعت تېری یا خبرې کول او دا مستحب کار دی چې قرآن کریم وایي او سامع ژاړي، که ژړا نه ورتله بیا دې د ژړا په رقم کنبیني.

**دلیل:** قُلْ آمِنُوا بِهِ أَوْ لَا تُؤْمِنُوا ۚ إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهِ إِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا[۲]

---

(۱) رواه بیهقي في الشعب، صحیح الجامع/ رقم ۳۹۳۹.

(۲) الاسراء، آية ۱۰۷.

ketabton.com - The Digital Library



(وَيَقُولُونَ سُبْحَانَ رَبِّنَا إِن كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُولًا)[۱]

(وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا)[۲]

**قاعده:** زېرى دې ورکوي په وخت د (آيات نعيم)، پناه دې غواړي په وخت د (آيات عذاب)، تسبيح دې وايي هغه وخت چې د تسبيح آيات وي، دعا دې کوي هغه وخت چې د دعا آيات وي او استغفار دې وايي هغه وخت چې آيات د استغفار وي.

---

(۱) الاسراء، آية ۱۰۸.

(۲) الاسراء، آية ۱۰۹.

ketabton.com - The Digital Library



# د تلاوت مراتب

**اول:** مشک[1] په مثال د لیندۍ دی




**دویم:** تدویر[2] په لغت کې د راغونډولو او څرخولو په معنا دی او په اصطلاح کې په منځنۍ کچه د قرانکریم د لوستلو او تلاوت څخه عبارت دی. یعنې نه کرار تحقیق او نه چټک تحدیر.

**دریم:** حدر[3] په لغت کې اړولو او په اصطلاح کې په تېزۍ سره د قرانکریم لوستلو ته وایي. خو باید پام مو وي چې په **(حدر)** سره د قرانکریم لوستل هیڅکله د تجوید د احکامو د نه رعایت په معنا نه دی، بلکې د تحقیق او تدویر په نسبت د تجوید قواعدو ته په پاملرنې په تېزۍ سره لوستل دي.

**فایده:** له تدویر څخه زیات په پنځه وخته لمانځه کې استفاده کېږي او له دې امله چې تدویر یوه متوسطه طریقه ده او **(خیر الأمور اوسطها)** دی، نو له دې امله د اکثرو قاریانو او مُجَوِیْدِیْنُو د خوښې وړ طریقه ده.[4]

**تنبیه:** هر قاري په دې مکلف دی چې په درې واړو حالتونو کې دتجوید د قواعدو پوره مراعات وکړي.

(۱) احکام تجوید، ص ۱۱.

(۲) احکام تجوید، ص ۱۱.

(۳) احکام تجوید، ص ۱۱.

(۴) منارة الاتقان، ص ۲۲.

ketabton.com - The Digital Library



## لومړی درس

# د تجوید ثبوت او ډولونه

**اول: تجوید بدهي یا عملي:** دا د تجوید هغه ډول دی چې پر تعلیم موقوف نه وي لکه: د صحابه‌وو تجوید یا د اوسنۍ زمانې حافظان، چې بغیر له تعلیم التجوید ښه صحیح تلاوت کوي.(۱)

**دویم: نظري یا علمي:** دا د تجوید هغه ډول دی چې موقوف پر تعلیم د قواعدو وي.

**پوښتنه:** د شرعي په دلایلو اربعة و سره د تجوید ثبوت سته؟

**جواب:** هو په دلائِلو اربعة و سره سته:

- **اول:** په کتاب الله سره ثبوت: سورة المزمل، آیات نمبر (۴) «وَرَتِّلِ الْقُرآنَ تَرْتِيْلًا».

تفسیر: په ارامۍ او مُهلت سره د قرانکریم داسې ویل چې اورېدونکی یې د حروفو د شمېرلو قدرت ولري.(۲)

**پوښتنه:** په تجوید سره د قرانکریم ویل ښه ثابت سول؟

**جواب:** له حضرت علي (رضي الله عنه) ښه پوښتنه وسوه: «الترتیل ماهو؟»

قال علي (رضي الله عنه): «الترتیل هو تجوید الحروف و معرفة الوقوف.»(۳)

---

(۱) غاية المرید، ص ۳٦.

(۲) تفسیر ایوبي، ج ۱۸، ص ۱۳۴.

(۳) التمهید فی التجوید، ص ۴۰.

ketabton.com - The Digital Library



• **دویم:** د رسول‌الله (ﷺ) په سنتو سره ثبوت: «رُبَّ القاري للقرآن والقرآن یلعنهُ.» (۱)

**تفسیر:** ډېر وخت به یو قاري قرآنکریم وایي، خو قرآن کریم به پرې لعنت وایي، یعنې غلط به یې تلاوت کوي او تجوید به نه مراعت کوي.

**پوښتنه:** هغه کُبار علماء چې تجوید یې نه وي ویلی، آیا تر پورته ذکر سوي حدیث شریف لاندې سول؟

**جواب:** له پورته ذکر شوي حدیث شریف څخه هغه څوک مراد دي چې تجوید یې ویلی وي او د قرانکریم د لوستلو پر مهال یې نه مراعت کوي. (۲)

• **دریيم:** په اجماع سره ثبوت: کله چې حضرت علي (رضی الله عنه) د ترتیل ترجمه په تجوید سره وکړه ډېر لوی لوی صحابه کرام ناست وه، هیچا یې مخالفت ونه کړ؛ بلکې چوپه خوله پاتې سول، نو دا اجماع ده. (۳)

• **څلورم:** په قیاس سره ثبوت: د نبي کریم (ﷺ) له زمانې څخه رانیولې بیا تر نن ورځې پورې هیچا د تجوید مخالفت نه دی کړی. دویم قرآن عربي دی او د تجوید له قواعدو څخه مخالفت کول بعضې وختونه حروف عجمي کوي. (۴)

• **پنځم:** قاضي بیضاوي رحمه الله فرمایي «ايْ جَوِّدِ القرآن تَجْوِیْدًا»

**تفسیر:** یعنې قرآن په تجوید سره ښایسته کړئ.

---

(۱) نهایة المفید، ص۱۲.

(۲) ځکه ملا علي قاري رحمه الله فرمایي چې په دغه کې درې ډلې کسان داخل دي: بې عمله، تحریف کوونکی، او غلط ویونکی، جمال القرآن، ص ۱۸.

(۳) جمال القرآن، ص ۱۸ او احکام تلاوت التجوید.

(۴) جمال القرآن، ص ۱۸، ۱۹.

ketabton.com - The Digital Library



## دویم درس

# د مصنف (رح) تعریف

**پوښتنه:** د جمال القرآن مصنف څوک و؟

**جواب:** حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله چې اصلي نوم یې عبدالغني او د پلار نوم یې عبدالحق و.[۱]

**پوښتنه:** حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په کوم کال وزېږېد؟

**جواب:** د ۱۲۸۰ قمري کال د ربیع‌الثاني میاشتې په ۵مه نېټه، د چهارشنبې په ورځ، د سهار تر سپېدو یوځه مخکې وزېږېد.[۲]

**پوښتنه:** حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په کوم ځای کې وزېږېد؟

**جواب:** د هندوستان په تهانه بهون سیمه کې وزېږېد.[۳]

**پوښتنه:** حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په څو کلنۍ کې وفات سو؟

**جواب:** په ۱۳۶۲ قمري کال کې د ضعف او معدې د ناروغي په سبب وفات سو او د هندوستان د عشق بازار په هدیره کې دفن سو، دا هدیره دوی په خپلو پیسو اخستې او وقف کړې وه.[۴]

---

(۱) جمال القرآن، ص ۹.

(۲) جمال القرآن، ص ۹.

(۳) جمال القرآن، ص ۹.

(۴) جمال القرآن، ص ۱۱.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله څومره ژوند وکړ؟

**جواب:** ۸۲ کاله، ۳ میاشتې او ۱۱ ورځې.[۱]

**پوښتنه:** حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله څومره تصانیف درلودل؟

**جواب:** علي تهانوي رحمه الله تر (۱۰۰۰) زیات تصانیف درلودل.[۲]

(۱) درالمختار.

(۲) جمال القرآن، ص ۱۱.

ketabton.com - The Digital Library



## درېیم درس

# تر تجوید مخکې ښېګڼې

د هر فن تر زده‌کولو مخکې د درېیو شیانو او همدارنګه د تجوید تر زده‌کولو مخکې بیا د لسو[1] شیانو پېژندل ضروري دي:

**۱) الف. د تجوید لغوي معنا:** (تحسین شيءٍ بالشيء.)

**ب. د تجوید اصطلاحي معنا:** (هر حرف ته حق او مستحق ورکول.) له **(حق)** څخه مراد مخارج او صفات لازمه دي او د **(مستحق)** څخه مراد صفات عارضية دي.

**۲) تعریف:** هو علمٌ یبحثُ فیه عن مخارجَ الحروف و صِفاتها.

**۳) موضوع:** حروف هیجاء **(د الف څخه تر یا پورې)**.

**۴) غرض:** (صون اللسان عن الخطاء في تلاوة القرآن). **(تلاوة القرآن کما أُنْزِلَ)**.

**۵) فایده:** سعادة الدارین یا د الله تعالی رضا حاصلول.

**تنبه:** د تجوید علم که هر څا زده کړ، هغه به په دنیا او اخرت کې کامیابه وي لکه نبي کریم ﷺ چې فرمایي: **(خیرکم من تعلَّم القرآن وعلَّمه.) الحدیث**[2]

**۶) حکم:** حکم بیا په دوه ډوله دی:[3]

**اول؛** عمل کول پرې فرض عین دي. هر مسلمان به د تجوید د قواعدو تطبیق په

(۱) جمال القرآن، ص ۱۵ـ ۱۷..

(۲) رواه البخاري، ۶،۱۹۲، مشکوة ج ۱، ص ۲۰۱.

(۳) معلم التجوید، ص ۴۰.

ketabton.com - The Digital Library



قرائت کې کوي دا فرض عین دي.

**دویم؛** تلاوت یې فرض کفایي دی، یعنې د تجوید زدکړه.

**۷) فضیلت:** تجوید افضل د علومو دی، ولې؟ ځکه چې په قرانکریم پورې تعلق لري او قرانکریم افضل‌الکتُب دی.

**۸) ارکان:** ارکان څلور دي:

۱. مخارج الحروف
۲. صفات الحروف
۳. ترکیب القواعد
٤. رياضة اللسان

**قاعده:** که دا څلور ارکان چا مراعات نه کړل هغه نه قاري دی او نه ورته قاري ویل کیږي.[1]

**۹) واضعین:** دا هم څلور دي:

۱. خلیل ابن احمد فراهیدي (رح)
۲. محمدابن مستنیر (رح)
۳. عمر ابن عثمان (رح)
٤. یحی ابن زیاد (رح)

د واضعینو څخه مراد د قواعدو واضعین دي.

**تنبیه:** د دې فن وضع او ترتیب تقریباً د (۱۵۰) هجري سنې څخه شروع کیږي.

**۱۰) مسمیٰ:** د حضرت علي (رض) مقوله ده. «الترتیل هو تجوید الحروف...»

(۱) انعام التجوید، ص ۲۰.

ketabton.com - The Digital Library



## څلورم درس

# د لحن بیان

لحن په لغت کې مطلق (غلطي کولو) ته وایي او په اصطلاح[(۱)] کې په درې ډوله دی:

۱ **د تجوید خلاف قرآن ویل** (د مخارجو غلطي)

۲ **یا غلط ویل** (د صفاتو لازمه‌وو غلطي)

۳ **یا بې قاعدې ویل** (د صفاتوعارضه‌وو غلطي)

**لحن:** لحن په دوه ډوله دی:

**لحن جلي**

**ښکاره او سخته غلطي**

**ښکاره:** هرڅوک پرې پوهېږي.

**سخته غلطي:** کله کله د آیت معنا ته تغیر ورکوي.

**لحن خفي**

**پټه او سپکه غلطي**

**پټه:** بغیر د قاریانو بل څوک نه پرې پوهېږي.

**سپکه غلطي:** کله کله لمونځ پرې مکروه کېږي.

---

(۱) جمال القرآن، ص ۲۱-۲۳.

ketabton.com - The Digital Library



## پنځم درس

# د لحن جلي او خفي بيان

**جلي لحن:** داسې معلومه غلطي ده چې د کليمې په معنا کې تغيير راولي لکه په لاندې حالتونو کې:

۱. د يوه حرف بدلول په بل حرف باندې، مثال: د (الحمدُ) پر ځای (الهمدُ) تلفظ کول.[۱]

۲. د کليمې له حروفو يو حرف کمول، مثلاً: د (لم يُولد) پر ځای (لم يُلد) تلفظ کول. د «و» حرف څرګند نه کړي.

۳. د کليمې په حروفو کې د حرف زياتول، مثلاً: د (الحمدُلِلّه) پر ځای (الحمدولله) تلفظ کول، د «دال» حرف پېښ دومره کش کړل سي چې «واو» پيدا سي.

۴. په حرکاتو کې تغير، مثلاً: د (اَنْعَمْتَ) پر ځای (اَنْعَمْتُ) تلفظ سي، د «ت» حرف د زور پر ځای پېښ اداء سي.

۵. د ساکن حرف متحرک کول، مثلاً: د (اَنْعَمْتَ) پر ځای (اَنْعَمَتَ) ويل.[۲]

٦. د مشدد حرف مخفف کول، مثلاً: د (فَجَّرْنَا) پر ځای (فَجَرْنَا) ويل.

۷. د مخفف حرف مشدد کول، مثلاً: د (إلىٰ) پر ځای (إلّا) ويل.

---

(۱) جمال القرآن، ص ۲۱.

(۲) فوائد مکيه، ص ۵.

ketabton.com - The Digital Library



۸. ډک حرف تش تلفظ کول، مثلاً: د (طلاق) پر ځای (تلاق) ویل.[۱]

د **جلي لحن** حکم څلور اجزاء لري:[۲]

۱. په دنيا کې حرام دی.

۲. په اخرت کې د عذاب وېره سته خو يقيني نه ده.

۳. قاري او سامع يو رقم دي.

۴. چې معنا يې غلطه سي لمونځ په فاسدېږي.

**خفي لحن:** خفي لحن په صفات عارضيه‌وو کې راځي معنا يې کوچنی او پټه غلطي ده.

د **خفي لحن** حکم درې اجزاء لري: [۳]

۱. په دنيا کې مکروه دی

۲. په اخرت کې د عذاب وېره نسته

۳. کله کله لمونځ پرې مکروه کېږي

---

(۱) جمال القرآن، ص ۲۲. انعام التجوید، ص ۲۴، ۲۵. معلم التجوید، ص ۳۷،

(۲) انعام التجوید، ص۲۵.

(۳) انعام التجوید، ص ۲٦.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** ولې يې د لحن بحث مخته راوړی؟

**جواب:** الف: د عربو مقوله ده: **(تعرف الاشياء باضدادها)** ځکه لحن په تلاوت کې غلطۍ ته وايي او باقي نورې قاعدې د تلاوت پر صحت مرتبې دي.[۱]

**پوښتنه:** کوم ضد چې د لحن دی هغه وجودي دی، نو هغه به يې رامخته کړی وای؟

**جواب:** د هغو نورو بحث ډېر و.

---

(۱) معلم التجويد، ص ۱۸۱. انعام التجويد، ص ۲٦.

ketabton.com - The Digital Library



## شپږم درس

# د أعوذ بالله بیان

**پوښتنه:** د أعوذ بالله ثبوت څنګه سوی دی؟

**جواب:** د أعوذ بالله ثبوت په کتاب الله سره سوی دی. «فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ.»(۱)

**تفسیر:** فإذا اردت أن تقرأ فاستعذ(۲) الآیة

**پوښتنه:** په آیات کې د (فاستعذ) لفظ ذکر سوی او دلته د (أعوذُ) دا خو مخالفت سو؟

**جواب:** دلته مقصود تعلیم دی نه امر.(۳)

**پوښتنه:** بل ځای به یې راوښیې؟

**جواب:** لکه په (قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ)

**د أعوذ بالله په ویلو کې د قاریانو اختلاف:(۴)**

**یوه ډله یې واجب بولي؛** ځکه په آیت کې د امر صیغه راغلې ده، نو امر د وجوب لپاره وي.

---

(۱) آیت نمبر ۹۸، سورة النحل.

(۲) الآیه، حلبي کبیر، ص ۱۵.

(۳) انعام التجوید، ص ۲۷، فوائد مکیه، ص ۸.

(۴) فوائد مکیه، ص ۷.

ketabton.com - The Digital Library



**دویمه ډله یې مستحب بولي؛** ځکه تلاوت مستحب او اصل دی او (اعوذُ بالله) د تلاوت فرعه ده، نو چې اصل یې مستحب وي، فرعه به یې هم مستحب وي.

**پوښتنه:** موږ کوم یو غوره کړو؟

جواب: مستحب.

**پوښتنه:** ولې؟

**جواب:** «وَخُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا»[1]

(۱) آیت نمبر ۲۸. سورة النساء.

الاضاءة في اصول القراءة للشيخ علي محمد الصباع، ص ٦، وغاية المريد، ص ۴۴.

ketabton.com - The Digital Library



## اووم درس

# د بسم الله بیان

**پوښتنه:** د بسم الله ثبوت څنګه سوی دی؟

جواب: الف: «کل امر ذي بال لم یبدأ فیه به بسم الله فهو ابتر.»[١]

ب: «اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ...»[٢]

د أعوذ بالله او بسم الله د ویلو لپاره درې ځایونه دي:[٣]

**١ د تلاوت پیل د سورت پیل**

چې د قاري د تلاوت او د سورت دواړو شروع وي. دلته (أعوذ باالله او بسم الله) دواړه ویل کېږي. أعوذ باالله د تلاوت په وجه او بسم الله د سورت په وجه.

**٢ د سورت په منځ کې د تلاوت پیل**

چې د قاري د تلاوت شروع وي او د سورت منځ وي. دلته أعوذبالله ویل کېږي ځکه د تلاوت شروع ده او په بسم الله کې اختیار دی، خو که وویل شي بهتره ده.

---

(١) الحدیث.

(٢) آیت نمبر ١، سورة العلق.

(٣) جمال القرآن، ص ٢۴.

ketabton.com - The Digital Library



**۳**
**د تلاوت په منځ کې د سورت پیل**

چې د قاري د تلاوت په منځ کې سورت راسي دلته یوازې بسم الله ویل کېږي. أعوذبالله د تلاوت په شروع پورې اړه لري.

**د دغو درېیو ځایونو لپاره څلور حکمونه دي:**[1]

۱ .**فصل کل:** (أعوذ بالله) (بسم الله) (سورة) ټوله په جلا جلا ساه ویل.

۲ .**وصل کل:** (أعوذ بالله) (بسم الله) (سورة) ټوله په یوه ساه ویل.

۳ .**فصل اول وصل ثاني:** (أعوذ بالله) په جلا ساه ویل، (بسم الله) او (سورة) په جلا ساه ویل.

۴ . **وصل اول فصل ثاني:** (أعوذ بالله) او (بسم الله) په جلا ساه ویل او (سورة) په جلا ساه ویل.

(۱) جمال القرآن، ص ۲۵، و ف، ص ۱۰.

ketabton.com - The Digital Library



## اتم درس

# په دغو درېیو ځایونو کې د څلورو حکمونو جاري کول

**لومړی:** «**د تلاوت او د سورت پیل**» دلته څلور واړه حکمونه جائز دي، خو بهتره یې اول (**فصل کُل**) دی.

**دویم:** «**د سورت په منځ کې د تلاوت پیل**» دلته (**فصل اول، وصل ثاني**) غیر جائز دی، ځکه چې بیا اورېدونکي ته شک پیدا نسي.

**درېیم:** «**د سورت پیل د تلاوت په منځ کې**» دلته (**وصل اول، فصل ثانی**) غیر جائز دی؛ ځکه چې بیا اورېدونکي ته شک پیدا نسي.(۱)

**پوښتنه:** سامع ته به څنګه شک پیدا سي؟

**جواب:** سامع فکر ونه کړي چې بسم الله د سورت جز ده؛ بلکې بسم الله د کتاب جز ده. ځکه بسم الله مستقل آیت دی.(۲)

**تنبیه:** بسم الله د سورتونو د جلاوالي لپاره لیکل سوې ده. عن ابن عباس، قال: کان النبي صلی الله علیه وسلم «لا یعرف فصل السورة حتی تنزل علیه بسم الله الرحمن الرحیم»(۳)

---

(۱) جمال القرآن، ص ۲۵، و فوائد مکیه، ص ۱۰.

(۲) تفسیر ایوبي، ص ۳۴، ج ۱، و شرح فوائد مکیه، ص ۸۹، و فوائد مکیه، ص ۱۱.

(۳) رواه ابو داود، رقم ۷۸۸.

ketabton.com - The Digital Library



**تنبیه:** بسم الله خو د سورت د سر لپاره وضعه سوې ده، نه د سورت د پای لپاره.[(۱)]

**پوښتنه:** د قران کریم (۱۱۴) سورتونه دي او د ټولو په سر کې بسم الله ویل کېږي، د سورة برائت یا توبه په سر کې ولې بسم الله نه ویل کېږي؟

**جواب:** د څلورو وُجوه له امله:

**اول-** جبرائیل علیه السلام نه ده راوړې.[(۲)]

**دویم-** حضرت عثمان (رضي الله عنه) نه ده لیکلې.[(۳)]

**دریم-** په سورة توبه کې د قهر بحث دی او بسم الله د رحمت لپاره ده.[(۳)]

**څلورم-** سورة توبه د سورة انفال جزء ده او د سورة انفال په سر کې بسم الله لیکل سوې ده.[(۳)]

**پوښتنه:** د سورة انفال په سر کې یې ولې لیکلې ده؟

**جواب:** هلته د قهر بحث لږ دی.[(۴)]

**پوښتنه:** که د سورة برآئت په مابین کې شروع کوې؟

**جواب:** أعوذ بالله ویل ضروري دي او بسم الله ویل ښه کار دی.[(۵)]

**پوښتنه:** ولې؟

**جواب:** د قهر د تقلیل له امله.

---

(۱) احکام التجوید، ص ۲۲ او معلم التجوید، ص ۲۳۴.

(۲) معارف القرآن، ج ۳، ص ۷۰. احکام التجوید، ص ۲۲ او معلم التجوید ص ۲۳۴.

(۳) انعام التجوید، ص ۳۲.

(۴) انعام التجوید، ص ۳۳.

(۵) فوائد مکیه، ص ۹ او معلم التجوید ص ۲۳۹.

ketabton.com - The Digital Library



## نهم درس

# د سورت انفال قواعد

**فایده:** که سورة انفال خلاص سو او په سورة برآئت مو شروع کوله، دلته درې وجهې روا دي:

**۱: وقف ۲: وصل ۳: سکته:**[۱] (اولی وقف دی بیا وصل دی بیا سکته ده.)

**مسله:** که قاري سورت انفال خلاص کړی، بیا سورت برائت شروع کوي، نو دلته بسم الله نه ویل کېږي. لکن که تلاوت د سورت برائت له سر څخه شروع کوي، بیا به بسم الله وایي.[۲]

**فایده:** که یو اجنبي سړي ته بغیر د تجوید د قواعدو ځواب ورکړي، نو اعوذ بالله به په پټه سره راګرځوي. که جهر وي که خفیه.[۳]

**فایده:** «**أعوذ بالله**» او «**بسم الله**» د تلاوت تابع دي؛ که جهر وي که خفیه. له پورتنی قاعدې پرته.[۴]

**فایده:** که تلاوت د یو ضرورت په خاطر قطع سي، لکه: (ټوخی، نوږل یا د قرائت قاعده.) یو چا ته ور وښیي دلته (**أعوذبالله او بسم الله**) راګرځول نه غواړي.[۵]

(۱) معلم التجوید، ص ۲۳۸.

(۲) معارف القرآن، ج ۳، ص ۷۰.

(۳) معلم التجوید، ص ۲۳۲.

(۴) معلم التجوید، ص ۲۳۲، ۲۳۴ او احکام التجوید، ص ۲۲.

(۵) فوائد مکیه، ص ۱۲.

ketabton.com - The Digital Library



## لسم درس

# د مخارجو بیان

تر مخارجو مخکې د شپږو شیانو[۱] پېژندل ضروري دي:

**اول:** د مخرج لغوي معنا **(موضع الخروج)** او همدارنګه د مخرج اصطلاحي معنا **(حيز مولیدٌ للحرف)**.

**دویم:** د مخارجو تعداد: د امام خلیل صاحب (رح) په مشهور قول د مخارجو تعداد **۱۷** دی.

**پوښتنه:** آیا غیر مشهور قول هم شته؟

**جواب:** هو غیر مشهور قول هم شته او هغه د امام سیبوی (رح) دی چې د مخارجو تعداد **۱٦** یادوي. هغه اول نه مني. امام فراء یې بیا **۱۴** یادوي. هغه اول نه مني او نهم، لسم او یوولسم بیا درې واړه په یوه حسابوي.[۲]

**پوښتنه:** ولې د امام خلیل (رح) قول مشهور سو؟

**جواب:** د امام خلیل (رح) قول په دوو وجهو مشهور سو: **الف** - هغه د علم تجوید اول استاد دی. **ب**- هم د امام فراء او امام سیبوی (رح) استاد دی.

**قانون:** کله چې د شاګرد او استاد خبره سره ټکر سي، نو د اُستاد خبره معتبره وي.[۳]

---

(۱) انعام التجوید، ص ۳٦.

(۲) فوائد مکیه، ص ۱۴ او ۱۵.

(۳) انعام التجوید، ص ۳۷ او جمال القرآن، ص ۲۷.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** ولې امام خلیل (رح) مخارج **۱۷** بولي؟

**جواب:** هغه هر حرف ته مخرج ثابتوي.[۱]

**پوښتنه:** ټول مخارج **۱۷** دي او حروف بیا **۲۹** دي. نو هر حرف ته څنگه مخرج ثابت سو؟

**جواب:** د حروفو تر منځ درې نسبتونه دي: بُعْدِ مُخْرَجْ، قُرْبِ مخرج اَوْ اِتِّحَادِ مخرج.[۲]

**درېیم:** د حرف پېژندل په لغت کې کناره او یا هم طرف ته وایي او په اصطلاح کې بیا «هو صوت یعتمد علی المخارج المحقق او مقدر.»[۲]

**تنبیه:** مقدر دوه دي: اول او آخر.[۲]

**څلورم:** د حروفو تعداد **۲۹** دی.[۲]

حروف په قرآن کریم کې (**۲۹**) دي، خو بعضې مجویدین حضرات وایي (**۲۸**) دي، ځکه د **الف** او **همزه** تر منځ تفاوت نه مني.

موږ جواب ورکوو چې د الف او همزه ترمنځ (**۵**) تفاوته دي:

۱ . (الف) همیشه ساکن وي او (همزه) هم ساکن راتلای سي هم متحرک.

۲ .(الف) یو شکل لیکل کېږي او (همزه) هم د (الف) په شکل او هم د (ع) د سر په شکل لیکل کېږي.

۳ .(الف) د کلیمې په سر کې نه سي راتلای او (همزه) بیا راتلای سي.

---

(۱) انعام التجوید، ص ۳۷ او جمال القرآن، ص ۲۷.

(۲) جمال القرآن، ص ۲۷، وغایة المرید، ص ۱۲۴.

ketabton.com - The Digital Library



۴ .(الف) د مقدر مخرج او (همزه) بیا د محقق مخرج څخه اداء کېږي.

۵ .په (الف) کې د رخوت او په (همزه) کې د شدت صفت دی.

**پنځم:** د حرف او مخرج ترمنځ فرق په (بعد مخرج، قرب مخرج او اتحاد مخرج) کې دی.[۱]

**شپږم:** د مخارجو تقسیم: دوه ډوله دي، (محقق، مقدر.)[۲]

**فایده:** مخارج (۱۱) لقبونه لري. (جوفیه، حلقیه، لهاتیه، شجریه، حافیه، طرفیه، ذلقیه، نطعیه، صفیریه، شفویه او خیشومیه.)[۲]

**فایده:** د مخارجو (وصول) یا (اجمالي مخارج) (۵) دي. (جوف، لسان، حلق، شفتین او خیشوم.)[۳]

---

(۱) انعام التجوید، ص ۳۸.

(۲) انعام التجوید، صفحه ۳۹، ۴۰.

(۳) انعام التجوید، صفحه ۳۹، ۴۰.

ketabton.com - The Digital Library



## یوولسم درس

# د مخارجو تقسیم

**فایده:** د مخرج محقق تفسیر: «جزءٌ معینٌ مِنْ اجزاءِ الحلقِ، والسانِ، والشفتین.»

**فایده:** د مخرج مقدر تفسیر: «جزءٌ غیر معینٌ من اجزاء الحلق، والسان، والشفتین.»[1]

- **لومړی: مخرج،** د جوف دهن دی، دلته درې حروف اداء کېږي: (الف، واو، ی) چې مده وي، دغه حروف درې نومونه لري: (جوفیه، هوائیه او مده.)
- **دویم: مخرج،** د اقصی حلق دی، دلته (ء ها) اداء کېږي.
- **دریم: مخرج:** د وسط حلق دی، دلته (ع ح) اداء کېږي.
- **څلورم: مخرج،** د ادنی حلق دی، دلته (غ خا) اداء کېږي او دغه حروف دوه نومونه لري: (حروف اظهار او حروف حلقي.)
- **پنځم: د ق مخرج،** د ق د مخرج اداء کولو پر مهال د ژبې بېخ لوړ تالو ته پورته کېږي، له لهات څخه د ستوني خوا ته.
- **شپږم: د ک مخرج،**[2] د ک د اداء کولو پر مهال د ژبې بېخ لوړ تالو ته پورته کېږي له لهات څخه د خولې خوا ته، دغو حروفو ته حروف (لهاتیة) وایي.

**تنبیه:** لهات اخرنی یا حلقي ژبې ته وایي.

(۱) معلم التجوید، ص ۳۳، ۴۴.

(۲) جمال القرآن، ص ۲٦.

ketabton.com - The Digital Library



## دوولسم درس

# د غاښو تفصیل

**اول) تعریف:** اکثره وخت د اکثره خلکو په خوله کې **(۳۲)** غاښونه وي.[۱]

**دویم) تقسیم:** دغه **(۳۲)** غاښونه په شپږو ډولونو وېشل شوي دي.[۲]

**۱ .ثنایا:** ثنایا غاښونه څلور دي چې دوه يې (سفلی) او دوه يې (علیا) بلل کېږي.

**پوښتنه:** ولې ثنايا ورته وايي؟

**جواب:** دوه دوه دي.

**پوښتنه:** ولې يې ثنايا و (علیا) ته تقسیم کړل؟

**جواب:** د ثنايا (علیا) څخه حروف اداء کېږي.

**۲ .روباعیات:** رباعي غاښونه هم څلور دي.

**پوښتنه:** ولې ورته روباعيات وايي؟

**جواب:** د څلورو عدد پرې بشپړ کېږي.

**۳ .ناب:** ناب غاښونه هم څلور دي.

**پوښتنه:** ولې ناب ورته وايي؟

---

(۱) انعام التجوید، ص ۴۳.

(۲) جمال القرآن، ص ۳۰ او نهاية القول المفيد ص ۴۳.

ketabton.com - The Digital Library



**جواب:** ناب داړې ته وايي او دغه غاښونه هم د داړو په شان تېره دي، ځکه ورته ناب وايي.

**۴ .ضواحک:** ضواحک غاښونه هم څلور دي.

**پوښتنه:** ولې ضواحک ورته وايي؟

**جواب:** په ضحکه خندا کې معلومېږي.

**تنبيه:** خندا درې ډوله ده: (قهقهه، ضحکه او تبسم.)[1]

**۵ .طواحن:** طواحن غاښونه ۱۲ دي.

**پوښتنه:** ولې ورته طواحن وايي؟

**جواب:** طحن ژوولو ته وايي او په طواحن غاښونو هم شی ژوول کېږي.

**٦ .ناجذ:** دا غاښونه هم څلور دي.

**پوښتنه:** ولې ناجذ ورته وايي؟

**جواب:** نجذ ماتوالي ته وايي او په دغو غاښونو هم کلک شی ماتېږي.

**فايده:** ناجذ، طواحن او ضواحک غاښونه چې شمېر يې (۲۰) ته رسېږي، اضراس هم ورته وايي.

**پوښتنه:** ولې اضراس ورته وايي؟

**جواب:** اَضْرَاسَ جمع د ضرس ده او ضَرْسَ زامې ته وايي او دوی هم د زامې غاښونه دي.

**پوښتنه:** په دې سره خو د غاښونو ډولونه (۷) سول، دا څنګه؟

(۱) انعام التجويد، ص ۴۳.


ketabton.com - The Digital Library



**جواب:** اضراس ځانته ډول نه دی؛ دا د دغو ډولونو څخه جوړ دی.

**پوښتنه:** ولې يې د غاښو بحث په مابين کې راوړی؟

**جواب:** راتلونکي مخارج ورسره تعلق لري.




ketabton.com - The Digital Library



# دیارلسم درس

## د ژبې تقسیم

د انسان په خُوله کې پرته د غوښې عضله چې موږ ژبه ورته وایو، د حروفو د مخارجو له مخې په (۸) برخو وېشل سوې ده:[۱]




تعریفونه:

۱ . وجه اللسان: (مخ د ژبې)

۲ . ظهر اللسان: (شا د ژبې)

۳ . اقصی اللسان: (پای د ژبې)

۴ . وسط اللسان: (مابین د ژبې)

۵ . ادنیٰ اللسان: (د ژبې د لوړې خوا سر)

٦ . کیناره اللسان: (د ژبې د لاندې خوا سر)

۷ . طرف اللسان: (د ژبې د منځ څخه تر سر پورې دواړه طرفونه)


۸ . حافئ اللسان: (د ژبې له منځ څخه تر حلق پورې دواړه طرفونه)


---


(۱) جمال القرآن، ص ۳۰.

ketabton.com - The Digital Library





ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** ولې یې ژبه په **(۸)** برخو وېشلې ده؟

**جواب:** ځکه چې د هرې مذکورې برخې څخه یې حرف اداء کېږي.

**اووم: مخرج حروف شجریه، (ج، ش، ی)** چې یا **(لین)** وي او یا هم **(حرکت)** ولري، خو غیر مده وي. د دغو حروفو د اداء په وخت کې د ژبې منځ لوړ تالو ته پورته کېږي.

**اتم: د ض مخرج،** د دغه حرف اداء د حافۍ اللسان څخه ده چې د اضراسو علیاوو د وریو سره وموښلي. حکیم الأمت وایي چې اداء یې د اضراسو د چپه طرف څخه اسانه ده.

**نهم: د ل مخرج،** د دغه حرف اداء د طرف اللسان څخه ده چې د څلورو ډوله غاښونو وریو ته ورتخته سي. (ثنایا، روباعیات، ناب او ضواحک.)

**لسم: د ن مخرج،** د دغه حرف اداء د طرف اللسان څخه ده چې د درې ډوله غاښونو د وریو سره ټکر وخوري. (ثنایا، روباعیات او ناب.)

**یوولسم: د ر مخرج:** د دغه حرف اداء د طرف اللسان څخه ده چې د دوه ډوله غاښونو د وریو سره ټکر سي (ثنایا او روباعیات) یو څه و ظهر اللسان ته هم دخل پکې سته.

**تنبیه: (ل، ن، ر):** حروف دوه نومونه لري، **«طرفیه او ذلقیه»** ذلق زامې یا لسانې ته وایي.

**دوولسم: مخرج (ط، د، ت)،** د دغو حروفو اداء چې ادنیٰ اللسان د ثنایا علیا و بیخونو ته ورتخته سي. د دغو حروفو نوم **(نطعیه)** دی. نطع کډې ته وایي.

**دیارلسم: مخرج (ظ، ذ، ث)،** د دغو حروفو اداء چې ادنیٰ اللسان د ثنایا علیا د سرو سره وموښلي. د دغو حروفو نوم **(لثویه)** دی. لثویه نښلېدلو ته وایي.

ketabton.com - The Digital Library



**خوارلسم: مخرج (ص، ز، س)**، د دغو حروفو اداء چې کناره اللسان د ثنايا يي سفلیٰ د سرو سره وموښلي سره د يو څه يوځايوالي د ثناياى عليا. د دغو حروفو نوم (صفيريه) دی.

**فايده: صفير**، د ژبې او شونډو څخه تېز د شپيلکې په شان اواز راوځي.[۱]

**پنځلسم: دف مخرج**، د دغه حرف اداء د ثنايا عليا سرونه او د لاندې شونډې منځ.

**شپاړسم: مخرج (ب، م، و)**، د «ب» حرف د شونډو د لندې حصې څخه اداء کېږي، نو ځکه بحري ورته وايي. د «م» حرف د شونډو د وچې حصې څخه اداء کېږي؛ نو ځکه بري ورته وايي. د «و» حرف د شونډو د کامل ګولوالي څخه اداء کېږي؛ نو ځکه ورته غونچه يي وايي. د دغو حروفو نوم (شفويه) دی.

**اوولسم: مخرج خيشوم**، خيشوم د پوزې نرمی ته وايي. دلته نون مخفات اداء کېږي.

**پوښتنه:** مخارج د حروف لپاره څه اهميت لري؟

**جواب:** د مور.

**فايده:** حکيم الامت (رح) فرمايي چې حرف ساکن کړئ او همزه پرې داخله کړئ، هرځاى ته چې ورسيد هغه د دغه حرف مخرج دی.[۲]

---

(۱) جمال القرآن، ص ۳۵.

(۲) جمال القرآن، ص ۳۸.

ketabton.com - The Digital Library



# څوارلسم درس

## د صفاتو بحث

**فایده:** تر صفاتو مخکې (۸) شیان پېژندل ضروري دي:[۱]

**اول: لغوي معنا** (ماقام با لشئ). **اصطلاحي معنا** (الصفت هي کیفیتٌ عارضةٌ للحرف، عندحصول، في المخرج).

**دویم: اقسام**، په دوه ډوله دي: **(لازیمه او عارضیه)**.

**درېیم: تعداد**، په مشهور قول سره د مخارجو تعداد ۱۷ دی.

**پوښتنه:** غیر مشهوره صفات هم سته؟

**جواب:** هو وروسته به یې بیان راسي ان شاءالله.

**څلورم:** په حرف کې څو صفات راځي؟ ۵ یا ٦ یا ۷.

**پنځم:** په حرف کې زیات صفات څو راځي او کم څو راځي؟

**جواب:** زیات ۷ او کم ۵.

**شپږم: د صفاتو معلومولو طریقه،** کوم حرف چې د صفت په یوه مجموعه کې وي نو د ضد په مجموعه کې نه سي راتلای.

**اووم: د صفت تعریف،** هغه به د هر صفت سره په خپل ځای کې راسي.

**اتم:** حروفو ته د صفاتو ګټه څه ده؟

---

(۱) جمال القرآن، ص ۴۰.

ketabton.com - The Digital Library



**جواب:** درې ګټې لري (۱) د حروفو ترمنځ تمایز او جلاوالی راولي. (۲) د حیوانانو او انسانانو ترمنځ فرق راولي؛ ځکه انسان د مخرج او صفاتو دواړو خیال ساتي او حیوان یوازې د مخرج خیال ساتي. (۳) د حروفو اطمینان په راځي، ځکه صفات حروفو ته داسې مثال لري لکه د کوچنیانو لپاره زانګو.[1]

## پنځلسم درس

## د صفاتو نومان: «لازیمه، ذاتیه، ممیّزه، موقومه.»

**صفات لازیمه په دوه ډوله دي: اول:** ۱۰ یې متضاده دي او تضاد یې تقابولي دي. دویم: ۷ غیر متضاده دي.[2]

**تفصیل:** تر هر صفت مخکې پنځه شیان پېژندل ضروري دي: (لغوي معنا. اصطلاحي معنا. مطلبي معنا. مجموعه او ضد یې.)[3]

اول لس متضاده صفات.

---

(۱) انعام التجوید، ص ۵۱.

(۲) جمال القرآن، ص ،۴۱، ۴۸.

(۳) انعام التجوید، ص ۵۳.

ketabton.com - The Digital Library



دا لس صفات پنځه مجموعې لري:[1]

**اوله مجموعه:**

**اول: همس دی**

- همس په **لغت** کې کراروالي ته وايي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پیدا سي حروف مهموسه ورته وايي.
- **مطلب** یې د دې حروفو د اداء په وخت کې به ساه جاري وي او په اواز کې به يو ډول ښکتوالی وي.
- **مجموعه** یې(۱۰) حروف دي «فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَكَتْ». (معنا) شوق او ترغیب ورکړئ هغه چا ته چې خاموشي یې غوره کړې وي.
- **ضد** یې **جهر** دی.

**دویم: جهر.**

- جهر په **لغت** کې لوړوالي ته وايي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پیدا سي حروف مجهوره ورته وايي.
- **مطلب** د دغو حروفو د اداء په وخت کې به ساه بنده او په اواز کې به يو ډول لوړوالی وي.
- **مجموعه** یې له مهمو سوو حروفو پرته په باقي (۱۹) حروفو کې جهر دی.
- **ضد** یې **همس** دی.

---

(۱) جمال القرآن، ص ۴۲.

ketabton.com - The Digital Library



## دویمه مجموعه:

### دربیم: شدت:

- شدت په **لغت** کې سختي ته وايي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پیدا سي **حروف شدیده** ورته وايي.
- **مطلب** د دغو حروفو د اداء کولو پر مهال باید ساه بنده او په اواز کې یو ډول سختي وي.
- **مجموعه** يې (۸) حروف دي. (اجدگ قطبت) (معنا) چې ما ته پیدا کړې تروش مخی.
- **ضد** يې **رخوت** دی.

### څلورم: رخوت:

- رخوت په **لغت** کې نرمی ته ویل کېږي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پیدا سي، حروف رخوة ورته وايي.
- **مطلب** د دغو حروفو د اداء په وخت کې ساه جاري وي او په اواز کې یو ډول نرمي وي.
- د حروفو رخوة و **مجموعه** باقي (۲۱) حروف دي.
- **ضد** يې **شدت** دی.

ketabton.com - The Digital Library



## شپاړسم درس

# فایده: د شدت او رخوت ترمنځ د توسط بل صفت هم سته

**پوښتنه:** توسط[(۱)] څه ته وايي؟

**جواب:**

- په **لغت** کې د یو شي منځ ته ویل کېږي.
- په **اصطلاح** کې چې د کومو حروفو په منځ کې دا صفت پیدا سي، هغو ته حروف متوسطه وايي.
- **مطلب** د دغو حروفو په اواز کې نه د شدت په شان سختي او نه د رخوة په څېر نرمي وي.
- **مجموعه** یې (۵) حروف دي. (لِنْ عُمَرْ) (معنا) نرم سه عمره.

**فایده:** د توسط صفت مستقل صفت نه شمېرل کېږي، نو څوک دي دا توهم نه کوي چې ټول صفات (۱۸) سول؛ ځکه توسط علیٰ حده صفت نه دی.[(۲)]

**پوښتنه:** ولې یې (ت، ک) حروف هم په مهموسه‌وو کې شمارلي چې هلته ساه جاري وي او هم یې په حروفو شدیده وو کې شمارلي چې هلته ساه بنده وي. اصلي پوښتنه دا ده چې په یوه حرف کې هم ساه جاري او هم بنده کېدلی سي؟

**جواب:** په دغه دوو حروفو کې د شدت صفت قوي دی او د همس صفت بیا ضعیف دی. ځکه خو د شدت د قوت په خاطر اواز بندېږي او د همس د ضعف

---

(۱) جمال القران، ص۴۴.

(۲) جمال القرآن، ۴۴ او احکام التجوید، ص ۴۵.

ketabton.com - The Digital Library



په خاطر بیا لږ ساه جاري کېږي.[۱]

**تنبیه:** البته چې ډېره ساه جاري نه سي؛ ځکه بیا (**ها**) پیدا کېږي چې دا لحن جلي دی. د دې لپاره بل جواب دا هم دی چې همس او شدت سره ضد نه دي.[۲]

**درېیمه مجموعه:**

**پنځم: استعلاء:**

- استعلاء په **لغت** کې لوړوالي ته ویل کېږي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پیدا سي، حروف مستعلیه ورته وایي.
- **مطلب** د دغو حروفو د اداء په وخت کې د ژبې پای لوړ تالو ته پورته کېږي.
- **مجموعه** یې (۷) حروف دي. **(خص ضغط قظ)** (معنا) قبر ته دې ځان بیداره کړه قبر ځای د تنګی دی.
- **ضد** یې **استفال** دی.

**شپږم: استفال:**

- په **لغت** کې کښته‌والي ته وایي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پیداسي، حروف **مستفله** ورته وایي.
- **مطلب** د دغو حروفو د اداء په وخت کې د ژبې پای لوړ تالو ته نه پورته کېږي.
- **مجموعه** یې له مستعلیه‌وو حروفو څخه پرته باقي نور (**۲۲**) حروف مستفله دي.
- **ضد** یې **استعلاء** دی.

---

(۱) جمال القرآن، ص ۴۵.

(۲) انعام التجوید، ص ۵۵.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** جهر او استعلاء دواړه یوه معنا لري، آیا د دواړو معنا لوړوالی دی؟

**جواب:** جهر د اواز او استعلاء د اداء د محل لوړوالي ته ویل کېږي.

## څلورمه مجموعه:

### اووم: اطباق:

- په **لغت** کې چسپېدلو ته وايي.
- په **اصطلاح** کې په کومو حروفو کې چې دا صفت پیدا سي، حروف مطبوقه ورته وايي.
- **مطلب** د دغو حروفو د اداء په وخت کې د ژبې منځ لوړ تالو ته پورته کېږي.
- **مجموعه** يې (۴) حروف دي. **(ص، ض، ط، ظ)**.
- **ضد** يې **انفتاح** دی.

### اتم: انفتاح:

- انفتاح په **لغت** کې خلاص والي ته وايي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پیدا سي، حروف منفتحه ورته وايي.
- **مطلب** د دغو حروفو د اداء په وخت کې د ژبې منځ لوړ تالو ته نه پورته کېږي.
- **مجموعه** يې **له** مطبوقه حروفو څخه پرته باقي (۲۵) حروف منفتحه دي.
- **ضد** يې **اطباق** دی.

ketabton.com - The Digital Library



## اوولسم درس

**قاعده:**

## د دغو څلورو صفاتو (استعلاء، استفال، اطباق، انفتاح) پر بنیاد ټول حروف پر درې ډوله دي:

**۱ .مستعلیه مطبوقه:** دا څلور حروف دي: (ص، ض، ط، ظ) چې هر وخت ډک ویل کېږي. ځکه د اداء په وخت کې یې د ژبې پای او منځ دواړه لوړ تالو ته پورته کېږي.

**۲ .مستعلیه منفتحه:** دا درې حروف دي: (ق، غ، خ) دا متوسط ویل کېږي، ځکه د اداء په وخت کې یې د ژبې پای لوړ تالو ته پورته کېږي او منځ یې نه پورته کېږي.

**۳ .مستفله منفتحه:** له (ص، ض، ط، ظ، ق، غ، خ) حروفو څخه پرته نور ټول باریک ویل کېږي. ځکه د اداء په وخت کې نه د ژبې پای پورته کېږي، نه منځ. (۱)

**پوښتنه:** لام (جلاله) او (الف) او (را) هم ځینې وخت ډک ویل کېږي، خو ولې مو په ډکو حروفو کې شمار نه کړل؟

**جواب:** د مذکوره حروفو ډکوالی عارضي دی او زموږ ذاتي ډکوالی مقصد دی. (۲)

(۱) جمال القرآن، ص ۴۷

(۲) انعام التجوید، ص ۵۷.

ketabton.com - The Digital Library



## پنځمه مجموعه:

### نهم: اذلاق:

- په **لغت** کې طرف یا بغل ته ویل کېږي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پیدا سي حروف مذلقه ورته وایي.
  - **مطلب** دغه حروف د ژبې او شونډو څخه په نرمۍ سره اداء کېږي .
  - **مجموعه** یې (٦) حروف دي: (فرمن لب)
  - **ضد** یې **اصمات** دی.

### لسم: اصمات:

- په **لغت** کې سختۍ ته ویل کېږي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پیدا سي حروف مصمُته ورته وایي.
  - **مطلب** دغه حروف د ژبې او شونډو څخه په سختۍ سره اداء کېږي.
  - **مجموعه** یې له مذلقه حروفو پرته دا نور ټول (۲۳) حروف مصمته دي.
  - **ضد** یې **اذلاق** دی.

ketabton.com - The Digital Library



## اتلسم درس

# غیر متضاد صفات[۱]

تر غیر متضاده صفاتو مخکې د څلورو شیانو پېژندل ضروري دي:
لغوي معنا، اصطلاحي معنا، مطلبي معنا او مجموعه

**اول: صفیر:**

- په **لغت** کې شپېلکۍ ته وايي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پیدا سي حروف صفیریه ورته وايي.
- **مطلب** د دغو حروفو د اداء په وخت کې له ژبې او شونډو څخه تېز د شپیلکۍ په شان اواز راوځي.
- **مجموعه** یې (۳) حروف دي. (ص، س، ز)

**فایده:** صفیر پر درې ډوله دی:

۱ .**صفیري اعلیٰ:** دا په (ز) حرف کې دی؛ ځکه اواز یې د مچمچۍ له اواز سره مشابهت لري.

۲ .**صفیر اوسط:** داپه (س) حرف کې دی؛ ځکه اواز یې د ملخ له اواز سره مشابهت لري.

۳ .**صفیر ادنیٰ:** دا په (ص) حرف کې دی؛ ځکه اواز یې د اوښ له تګ سره مشابهت لري چې په رېګو کې روان وي.

---

(۱) جمال القرآن، ص ۴۸.

ketabton.com - The Digital Library



## دویم: قلقله:

- په **لغت** کې حرکت ته وایي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پیدا سي حروف مقلقله ورته وایي.
- **مطلب** د دغو حروفو د اداء په وخت کې د دوی د سکون په وخت کې د دوی په مخرج کې یو اواز پیدا کېږي، هغه ته قلقله ویل کېږي.
- **مجموعه** یې (۵) حروف دي: **(قط بجد)** **(معنا)** ستوری د نیکبختی.

**فایده:** قلقله په دوه ډوله ده:

۱ .**کبرا:** چې د کلیمې په آخر کې د قلقلې حرف راسي. **(خَلَق)**

۲ .**صغرا:** چې د کلیمې په منځ کې د قلقلې حرف راسي. **(يَجْمَعُوْنَ)**

**فایده:** په **(کبرا)** او **(صغرا)** کې چې حرف مشدد راسي هغې قلقلې ته **(اعلیٰ)** هم وایي.

**فایده:** په **(کبرا)** او **(صغرا)** کې چې حرف ساکن وي هغې قلقلې ته **(ادنیٰ)** هم وایي.

**پوښتنه:** ولې یې قلقله په دغه پنځو حروفو کې را حصر کړې ده؟

**جواب:** په دغو حروفو کې یو صفت د شدت دی چې اواز پکې سخت وي او بل صفت د جهر دی چې اواز پکې لوړ وي. نو په کومو حروفو کې چې اواز سخت او لوړ سي، نو یو زاید اواز پیدا کېږي او هغه اواز ته قلقله وایي.[1]

**پوښتنه:** دغه دوه صفته خو په **(همزه)** کې هم سته، هلته ولې قلقله نه کېږي؟

**جواب:** د قلقلې د حروفو په مخرج کې پراخي ده، کله چې د مخرج دوې حصې ټکر سره وخوري، نو اواز یې اورېدونکی فهمولای سي چې دغه د قلقلې اصلي تعریف هم دی. خو د **(همزه)** په مخرج کې **(تنګي)** ده، کله چې د مخرج دوې

(۱) انعام التجوید، ص ۵۸.

ketabton.com - The Digital Library



حصې ټکر سره وخوري، نو اواز يې اورېدونکی نه سي فهمولی؛ ځکه مجويدين حضرات وايي چې په (همزه) کې ضغطه کېږي يعنې جَتْکَهْ کېږي.

**فایده:** د قلقلې د اداء په وخت کې چې اواز د مخرج سره ټکر وخوري او بېرته را وغورځي، خو د جټکې د اداء په وخت کې چې اواز له مخرج سره ټکر وخوري، بېرته نه راغورځېږي.[۱]

## نولسم درس

## فایده: قلقه پر ۵ برخو وېشل سوې ده[۲]

۱ .**اعلیٰ:** اعلی چې د قلقلې حرف د کلیمې په اخر کې مشدد وي او وقف پرې وسي، لکه: «اَلْحَقّ».

۲ .**عالي:** عالي چې حرف د کلیمې په آخر کې مشدد نه وي؛ خو وقف پرې وسي، لکه: «کَسَبَ».

۳ .**وسطیٰ:** وسطی کې حرف د کلیمې په آخر کې مشدد وي، خو وقف پرې و نه سي، لکه: «الحقُّ منْ رَّبّهِمْ».

۴ .**اوسطه:** اوسطه کې حرف د کلیمې په منځ کې وي او ساکن هم وي، لکه: «يَجْمَعُونَ».

۵ .**ادنیٰ:** په ادنی کې حرف متحرک وي، خو مجويد يې درک کولی سي، هر څوک نه.

---

(۱) انعام التجوید، ص ۵۹.

(۲) احکام التجوید، ص ۴۹ او انعام التجوید، ص ۵۹.

ketabton.com - The Digital Library



**قاعده:** قلقله په اعتبار د اداء سره په دوه ډوله ده:[۱]

**اول:** اکمله چې په حرف (ق) کې راځي او واجب هم ورته وايي.

**دويم:** کامله چې په باقي څلورو (ط ب ج د) حروفو کې راځي او جائز هم ورته وايي.

**پوښتنه:** (واجب) خامخا کولو ته وايي او (جائز) بيا اختيار ته وايي چې کوې يې او که نه. خو دا په داسې حال کې ده چې قلقله په ټولو حروفو کې يو شان ده، دا ولې؟

**جواب:** واجب يعنې اکمله. جائز يعنې کامله.[۲]

**درېيم: لين:**

په **لغت** کې نرمۍ ته وايي.

- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پيدا سي حروف لينيه ورته وايي.
- **مطلب** يې د ژبې او شونډو څخه په نرمۍ سره ادا کېږي.
- **مجموعه** يې دوه حروف دي (و،ی)، خو په دې شرط چې ما قبل يې مفتوح وي.

**څلورم: انحراف:**

- په **لغت** کې ميلان ته وايي.
- په **اصطلاح** کې چې په کومو حروفو کې دا صفت پيدا سي حروف منحريفه ورته وايي.

---

(۱) انعام التجويد، ص ٦٠.

(۲) فوائد مکيه، ص ۱۸.

ketabton.com - The Digital Library



- **مطلب** یې دا دی چې د ادا کولو پر مهال د (ل) مخرج میلان د (ر) مخرج ته وي او همداسې برعکس.
- **مجموعه** یې دوه حروف (ل، ر) دي.

## پنځم: تکریر:

- په **لغت** کې لړزې ته ویل کېږي.
- په **اصطلاح** کې چې په کوم حرف کې دا صفت پیدا سي حرف مکرکره ورته وایي.
- **مطلب** په ژبه کې یو ډول لړزه راځي.
- **مجموعه** یې دا حرف یوازې (ر) ده.

**قاعده:** تکریر په درې ډوله دی:[1]

۱ . **عین تکریر**؛ یو حرف په صفت او مخرج کې مکرر سي.

۲ . **عدم تکریر**؛ یو حرف نه په مخرج او نه هم په صفت کې مکرر سي.

۳ . **مشابه بل تکریر**؛ یو حرف مکرر نه وي، مگر د اورېدونکي په ذهن کې مکرر سي. خو دلته مراد **(مشابه بل تکریر)** دی؛ ځکه که **(عین تکریر)** مراد سي، نو دا لحن جلي دی؛ ځکه حرف به زیات سي او که **(عدم تکریر)** مراد سي، هم لحن جلي دی؛ ځکه بیا به حرف کم سي.

## شپږم: تفشي:

- په **لغت** کې پاشلو ته وایي.

---

(۱) جمال القرآن، ص ۵۱.

ketabton.com - The Digital Library



- په **اصطلاح** کې په کوم حرف کې چې دا صفت پیدا سي، حرف متفشي ورته وايي.
  - **مطلب** يې په خوله کې اواز پاشلی وي.
  - **مجموعه** يې دا حرف يوازې (**ش**) دی.

## شلم درس

## استطالت

### اووم: استطالت

- په **لغت** کې اوږدوالي ته وايي.
- په **اصطلاح** کې په کوم حرف کې چې دا صفت پیدا سي، حرف مستطله ورته وايي.
  - **مطلب** يې د خولې د ابتداء څخه اواز تر انتهاء پورې جاري وي.
  - **مجموعه** يې دا حرف (**ض**) دی.

**پوښتنه:** استطالت په لغت کې اوږدوالي ته وايي او (**مد**) چې وروسته به يې بيان راسي (ان شاء الله) هم اوږدوالي ته وايي. دا دواړه څه توپير لري؟

**جواب:** استطالت د خولې پر (**طول**) اوږدوالی دی او «**مد**» د خولې پر (فوق او تحت) اوږدوالی دی.[1]

---

(۱) انعام التجويد، ص ٦٢.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** دا (۷) صفات هم ضد لري، مثلاً: تفشي په شين کې ده، په نور کې نسته؟

**جواب:** په متضاده کې به د ضد نوم ذکر سوی و او دلته د ضد نوم نه دی ذکر سوی.[۱]

**فایده:** د حروفو پر بنیاد دا (۱۷) صفات پر (۵) ډوله دي:[۲]

- **اول: اقوٰی:** هغه حروف دي چې ټول صفتونه یې قوي وي، که یو تش وي هم فرق نه کوي. اقوٰی ځلور حروف دي: (**ض، ط، ظ، ق**).
- **دویم: قوی:** هغه حروف دي چې ډېر صفتونه یې د قوت وي. قوي حروف عبارت دي له: (**ج، د، ر، ص، ع، غ، همزه**).
- **دریم: ضعیف:** هغه حروف دي چې ډېر صفتونه یې د ضعف وي. ضعیف حروف عبارت دي له: (**الف، ت، خ، ذ، س، ش، ک، م، ن، و، ی**).
- **څلورم: اضعف:** هغه حروف دي چې ډېر صفتونه یې د ضعف وي، که یو قوي وي هم فرق نه لري. دا حروف عبارت دي له: (**ث، ح، ف، ه**).
- **پنځم: اوسط:** هغه حروف دي چې د ضعف او قوت صفتونه یې مساوي وي. اوسط حروف عبارت دي له: (**ب، ز، ل**).

**پوښتنه:** ولې مصنف (رح) تر ټولو قواعدو مخکې مخارج او صفات لازمه ذکر کړي دي؟

**جواب:** قرآن کریم چې له عربو څخه عجمو ته رانقل سو، نو عجمو سختې غلطۍ پکې کولې. نو د تجوید باني عالم امام خلیل (رح) د غټو غلطیو د اصلاح لپاره

---

(۱) معلم التجوید، ص ۷۰ او جمال القرآن، ص ۵۳.

(۲) جمال قرآن، ص ۵٦.

ketabton.com - The Digital Library



لومړی مخارج او صفات راوړل.[۱]

**فایده:** د صفاتو لازمه‌وو، یو نوم ذاتیه هم دی. مطلب که دغه صفت اداء نه سي، نو د حرف ذات به ختم سي. خو د حرف ذات ختمېدل درې ډوله دي:[۲]

**اول-** یو حرف په بل حرف بدل سي، مثلاً: د (**ط**) د استعلاء او اطباق صفت اداء نه سي، نو په حرف (**ت**) به بدله سي.

**دویم-** په یو حرف کې نقصان راسي، مثلاً: د (**خلق**) پر قاف قلقله ونه سي.

**درېیم-** یو حرف عربي پاتې نه سي، مثلاً: پر (**ج**) قلقله ونه سي، نو (**اچ**) به سي.

**فایده:** دا د بې پرواهۍ خبره ده چې څوک په تجوید کې کوشش نه کوي او ځان کامل قاري بولي. د کمو قواعدو په یادولو سره پر غتو علماوو د ګنهکارانو حکم کوي او لمونځونه یې فاسد بولي.[۳]

**پوښتنه:** صفات و حروف ته پر څه منزله دي؟

**جواب:** په مثال د زانګو دي؛ څکه هر کله چې کوچنی نارامي کوي، نو زانګو یې ارامه وي، هکذاحرف هم.[۴]

---

(۱) انعام التجوید، ص ٦٣ او جمال القرآن ص ۵۵.

(۲) جمال القرآن، ص ۵۴.

(۳) جمال القرآن، ص ۵۵.

(۴) انعام التجوید، ص ۵۲.

ketabton.com - The Digital Library



## یوویشتم درس

# صفات ممیزه

هغه حروف چې په مخرج کې سره شریک وي، په صفاتو ممیزه‌وو یې جلاوالی راځي. صفات ممیزه[1] په لاندې ډول دي:

۱ . (**الف، همزه، ها**): د الف څخه (**ها**) په همس او (**همزه**) په شدت جلا دي.

۲ . (**عَین، حا**): د عین څخه (**حا**) په همس او رخوت جلا ده.

۳ . (**غَین، خا**): د غین څخه (**خا**) په همس جلا ده.

۴ . (**جیم، شین، یا**): د یا څخه (**ش**) په همس او تفشي او (**ج**) په شدت او قلقله سره جلا دی.

۵ . (**لام، نون، را**): د لام څخه (**ر**) په تکریر جلا ده او (**ن**) په غُنه سره جلا دی. امام فراء (**رح**) غُنه دصفاتو لازمه وو څخه بولي.

٦ . (**طا، دال، تا**): د تا څخه (**ط**) په استعلاء او اطباق جلا ده او (**د**) په جهر او قلقله سره جلا دی.

۷ . (**ظا، ذال، ثا**): د ثا څخه (**ظ**) په استعلاء او اطباق جلا ده او (**ذ**) په جهر سره.

---

(۱) فوائد مکیه، ص ۲۲

ketabton.com - The Digital Library



۸ . (صاد، زا، سین): د زا څخه (ص) په استعلاء او اطباق او (س) په همس سره جلا دی.

۹ . (با، میم، واو): د واو څخه (ب) په شدت او قلقله جلا ده او (م) په توسط سره جلا دی.

**فایده:** تمایز یوازې په هغه حروفو کې وي چې په مخرج کې سره یو وي.

**فایده:** دا تمایز د امام فراء (رح) پر مذهب دی.

## دوه ویشتم درس

# غیر مشهور صفات لازمه

### غیر مشهور صفات لازمه لس دي:[1]

۱ . **مد:** مد په لغت کې اوږدوالي ته وایي. د مد حروف (**واو، الف، یا**) دي؛ خو هغه وخت چې ساکن وي او د ماقبل حرکت یې له خپله جنسه وي.

۲ . **علت:** علت په لغت کې ناجوړ ته وایي. د علت حروف (**و، ی**) دي؛ خو هغه وخت چې ساکن وي او ماقبل یې مفتوح وي.

۳ . **تفخیم:** تفخیم په لغت کې ډک ویلو ته وایي. د تفخیم محل (**مخص ضغط قظ لر**) دی.

(۱) انعام التجوید، ص ۷۲.

ketabton.com - The Digital Library



۴ . **ترقیق:** ترقیق په لغت کې باریک ویلو ته وایي او له حروفو مفخمه وو پرته نور ټول حروف دي.

۵ . **حد:** حد په لغت کې ټینګوالي ته وایي او دا محل یوازې د (**ح**) دی.

٦ . **نفخه:** نفخه په لغت کې پاکوالي ته وایي. د نفخې محل (**ذ، ز، ظ، ض**) (**مشابهة الصوت**) هم ورته وایي.

۷ . **ابدال:** ابدال په لغت کې بدلولو ته وایي او محل یې (**طال یوم انحدته**) دی.

۸ . **مخالطه:** مخالطه په لغت کې ګډون ته وایي او ځای د محل یې: (**ل جَلاَّ لَهُ، اَلِفْ مَفْخَمَهْ، ن مَخْفَاْتَ، ص مَشْمُمَهْ**) دی.

۹ . **زیادت:** زیادت په لغت کې بالابودوالي ته وایي او محل یې (**الیوم سعي**) دی.

۱۰ . **غنه:** غنه په لغت کې تللو ته وایي او اواز یې په پوزه کې ترسره کېږي. لکه: (**میم مشدد، نون مشدد**).

**تنبیه:** دغه صفات غیر مشهور دي، لکن د صفاتو لازمه وو تعریف پرې صادق دی.

ketabton.com - The Digital Library



## درویشتم درس

# عارضیه صفات

۱ . **تعریف**. کله کله حرف ته عارضېږي، مثلاً: د (**ر**) او (**ل**) ډکوالی.

۲ . صفات عارضیه، څلور نومونه لري.[(۱)]

| ۴: مزینه | ۳: محلیه | ۲: محسنه | ۱: عارضیه |
|---|---|---|---|
| مزینه؛ ځکه ورته وايي چې د حروفو تزیین او ښایست پرې راځي. | محلیه؛ ځکه ورته وايي چې حروف پرې ښایسته کېږي؛ ځکه حله هم ګاڼې ته ویل کېږي. | محسنه؛ ځکه ورته وايي چې د حروفو ښایست پرې راځي. | عارضیه؛ ځکه ورته وايي چې کله کله حرف ته عارضېږي. |

**فاعده:** محسنه، محلیه او مزینه درې واړه ښایست ته وايي.

یو قول داسې هم سته چې (**محسنه**) هغه ښایست دی چې د مخرج په واسطه راغلی وي او (**محلیه**) هغه ښایست دی چې د صفاتو عارضیه‌وو په واسطه راغلی وي او (**مزینه**) هغه ښایست دی چې د صفاتو لازمه‌وو په واسطه راغلی وي.

**فایده:** تر صفاتو عارضیه‌وو مخکې د **خلورو** شیانو پېژندل ضروري دي:[(۲)]

---

(۱) انعام التجوید، ص ۷۴.

(۲) انعام التجوید، ص ۵۸.

ketabton.com - The Digital Library



**اول:** صفات عارضیه په (۸) حروفو کې راځي چې مجموعه يې ده (لَرْمَنْ اُوي).[۱]

**دويم:** صفات عارضيه په دوه ډوله[۲] دي. يو يې (بدهي) دي چې بغير له استاده زده کېږي، لکه (تلاوت). (بدهي) ته (عملي) هم وايي. بل قسم يې (نظري) دي چې له استاد پرته نه زده کېږي، لکه: (اظهار) کول، (اخفاء) کول او (ادغام) کول (نظري) ته (علمي) هم وايي.

**درېيم:** نون ساکن په حکم کې د تنوين دی.

**پوښتنه:** بيا يې نو څه توپير وسو، بايد د دواړو نوم يو وای؟

**جواب:** د نون ساکن او تنوين ترمنځ شپږ توپيرونه سته:[۳]

۳. نون ساکن په ليکلو او ويلو کې نون دی او تنوين په ويلو کې نون دی او په ليکلو کې ۲ زوره ۲ زيره او ۲ پېښه دی.

**تنبيه:** دوه ځايه نون د تنوين په شکل ليکل سوی دی (اول) ليکوناً، په اصل کې ليکونن و. سورة يوسف. (دويم) لنسفعاً، په اصل کې لنسفعن وو. سورة العلق.

**تنبيه:** يو ځای بيا تنوين د نون په شکل ليکل سوی دی (کأين)؛ ځکه په اصل کې (کأيٍ) و.

۴. نون ساکن د کليمې په منځ او اخر کې راځي او تنوين يوازې د کليمې په اخر کې راځي.

۵. نون ساکن په وقف او وصل کې ثابت پاتې کېږي او تنوين په وصل کې

---

(۱) جمال القرآن، ص ۵۸.

(۲) انعام التجويد، ص ۷٦.

(۳) جمال القرآن، ص ۵۸.

ketabton.com - The Digital Library



ثابت او په وقف کې بدل یا حذف کېږي.

٦ . نون ساکن په اسم فعل او حرف کې راځي او تنوین پرته له تنوین ترنم څخه یوازې په اسم کې راځي.

٧ . نون ساکن اصلي او زائد راځي او تنوین یوازې زائد وي.

٨ . نون ساکن د تاکید لپاره او تنوین د تاکید لپاره نه شي راتلای.

**خلورم:** دا صفت چې عارضیږي، دا په درې ډوله دی:[1]

١ . عارض بالحرف چې تر نون ساکن وروسته یو حرف د (**یرملون**) له حروفو څخه راسي، بیا دلته ادغام کېږي.

٢ . عارض بالصفت چې یو حرف د صفت په خاطر ډک وویل سي لکه. (رَ).

٣ . عارض بالوقف چې قاري وروستنی حرف د وقف په خاطر ساکن کړي.

(١) معلم التجوید، ص ٩٩ او انعام التجوید، ص ٧٦.

ketabton.com - The Digital Library



# څلورویشتم درس

## حرکت[۱]

**حرکات:** زور، زېر او پېښ ته وايي.

**پېښ یا ضمه:** باید داسې اداء سي چې دواړه شونډې پکې راټولې سي، لکه (**واو**).

**زور یا فتحه:** باید داسې اداء سي چې دواړه شونډې خلاصې وي، لکه (**الف**).

**زېر یا کسره:** باید داسې اداء سي چې لاندې شونډه ښکته طرف ته خوشې سي.

**قاعده:** د حرکاتو د اداء په وخت باید ډېر احتیاط وسي، ځکه که صحیح اداء نه سي، مشابهت به یې سره راسي او دا لحن جلي دی. ځکه د لحن جلي یو ډول (**تبدیل الحرکت دی**).

**قاعده:** که تر دغو حرکتونو وروسته حرف مد نه و راغلی، باید کش نه کړل سي.[۲]

**قاعده:** که تر دغو حرکتونو وروسته حرف مد راغلی و، باید کش کړل سي.[۲]

**قاعده:** که په قرآن کریم کې یو حرف ساکن وي، باید د هغه حرف سکون پوره اداء سي. که پوره اداء نه سي، په پایله کې به یې لحن جلي راسي.[۲]

**قاعده:** که په قرآن کریم کې متحرک حرف راسي، حرکت یې باید پوره اداء سي. که چېرې پوره اداء نه سي، په پایله کې به یې لحن جلي راسي.[۲]

(۱) فوائد مکیه، ص ۴۱ او انعام التجوید، ص ۷۸.

(۲) فوائد مکیه، ص ۴۲، ق، ص ۸۱.

ketabton.com - The Digital Library



## پنځه ويشتم درس

# تفخيم او ترقيق

**لومړی: تعريف:** تفخيم ډک ويلو او ترقيق تش ويلو ته ويل کېږي.

**دويم:** تفخيم په دوه ډوله دی:(۱)

**۱ . تفخيم اصلي:** تفخيم اصلي چې د حروفو په ذات کې ډکوالی وي، لکه حروف (مستعليه مطبَقه).

**۲ . تفخيم عارضي:** تفخيم عارضي چې ډکوالی يې د عارض په وجه وي، لکه (را) يا (ل) جلاله.

**فايده:** تفخيم په اووه ډوله راځي:(۲)

۱ . **درجه تفخيم:** هغه حرف چې مفتوح او وروسته يې الف راغلی وي. مثال: (طَال).

۲ . **درجه تفخيم:** هغه حرف چې مفتوح وي؛ خو وروسته يې الف نه وي راغلی. مثال: (اِنْطَلِقُوْا).

۳ . **درجه تفخيم:** هغه حرف چې ضمه ولري. مثال: (مُحِيْطُ).

۴ . **درجه تفخيم:** هغه حرف چې کسره ولري. مثال: (ظِلٍ).

۵ . **درجه تفخيم:** هغه حرف چې ساکن وي او مخته حرف يې فتحه ولري. مثال: (يَقْطَعُوْنَ).

---

(۱) احکام التجويد، ص ۱۰۳.

(۲) احکام التجويد، ص ۱۰۴ او انعام التجويد، ص ۸۰.

ketabton.com - The Digital Library



٦ . **درجه تفخیم:** هغه حرف چې ساکن وي او مخته حرف يې ضمه ولري. مثال: (يُرْزَقُوْنَ).

٧ . **درجه تفخیم:** هغه حرف چې ساکن وي او مخته حرف يې کسره ولري. مثال: (مِرْصَادَ).

**دریيم:** ترقیق په دوه ډوله دی:


٨ . **ترقیق اصلي:** چې باریکوالی يې د حرف په ذات کې پروت وي. لکه حروف (مستفله منفتحه).

٩ . **ترقیق عارضي:** چې باریکوالی يې د عارض په وجه وي. لکه (ر) یا (ل) جلاله.

## شپږویشتم درس

## لام

لام په دوه ډوله دی:[1]




(١) جمال القرآن، ص ٦٠.

ketabton.com - The Digital Library



**اول: لام جلاله:** د الله جل جلاله د لفظ لام دی.

**قاعده:** که یې ماقبل (**فتحه**) یا (**ضمه**) وه، نو ډک ویل کېږي. مثال: (أَرادَالله رفعهُ الله) او که (**کسره**) وه، بیا باریک ویل کېږي. مثال «بسمِ الله».

**قاعده:** د (اللّٰهُمَّ) لام په حکم کې د لام جلاله دی. مثال: «سبحانَکَ اللّٰهم».(۱)

**پوښتنه:** ولې ورته جلاله وایي؟

**جواب:** جلال لوی والي او عظمت ته وایي چې لفظي لویوالی یې پر معنوي لویوالي دال سي.

**دویم: لام مطلق تعریفي:** هغه لام دی چې څلور شرایط لري:(۲)

۱ . د کلیمې په سر کې به وي.

۲ . د اسم په صیغه کې به وي.

۳ . زاید به وي، یعنې د (**ف، ع، ل**) پر ځای به نه وي راغلی.

۴ . اشاره به پرې سوې وي. لکه: (**جنس، استغراق، عهدذهني، عهدخارجي**).

**فایده:** که پاس څلور شرایط پوره وو، بیا نو دوه حالته لري: (**اظهار**) او (**ادغام**).

**د اظهار حالت:** هر کله چې تر (**الف و لام**) وروسته یو حرف د (**حروفو قمریه‌وو**) څخه راسي، هلته اظهار کېږي، نوم یې (**اظهار قمري**) دی. مثال: (**الحمد، والعصر**).

حروف قمریه (۱۴) دي: (**ابغ حجک وخف عقیمه**).(۳) او معنا یې داسې ده چې حج وکړه او وروسته ووېرېږه چې خراب یې نه کړې.

---

(۱) جمال القرآن، ص ۶۰. معلم التجوید، ص ۱۰۲.

(۲) انعام التجوید، ص ۹۳.

(۳) فوائد مکیه، ص ۳۵.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** ولې ورته اظهار قمري وايي؟

**جواب:** اظهار ښکاره کېدو او قمر سپوږمۍ ته وايي. مطلب چې هرکله سپوږمۍ را وخېژي، ستوري ښکاره وي. نو حروف (**قمريه**) چې هرکله تر (**الف لام**) وروسته راسي، نو (**الف لام**) هم ښکاره وي.(۱)

**د ادغام حالت:** هرکله چې تر (**الف لام**) وروسته يو حرف د حروفو (**شمسي**)وو څخه راسي، هلته ادغام کېږي او نوم يې (**ادغام شمسيه**) دی. مثال: (**الرحمن الرزاق**).

**پوښتنه:** ولې ور ته ادغام شمسيه وايي؟

**جواب:** ادغام پټولو ته او شمس بيا لمر ته وايي. مطلب هرکله چې (**لمر**) را وخېژي، نو ستوري پټ کړي. هرکله چې حروف شمسي تر (**الف لام**) وروسته راسي (**لام**) هم پټوي.(۱)

حروف شمسي هم **۱۴** دي.

**پوښتنه:** د **۲۸=۱۴+۱۴** کېږي او ټول حروف بيا **۲۹** دي. دا ولې؟

**جواب:** (**الف**) نه په شمسي کې راځي او نه هم په قمري کې؛ ځکه تر (**الف لام**) وروسته نه سي راتلی، بيا التقاء د ساکنينو راځي.(۲)

**دریيم: غیر تعریفي مطلق لام:** هغه لام دی چې همېشه باريک ويل کېږي که متحرک وي که ساکن. په دوارو حالتو کې اظهار پرې کېږي او اظهار مطلق ورته وايي. مثال (**قل هل بل**).(۳)

---

(۱) فوائد مکيه، ص ۳٦.

(۲) معلم التجويد، ص ۱۲۸.

(۳) انعام التجويد، ص ۹۵.

ketabton.com - The Digital Library



## اوه ويشتم درس

# د (ر) بيان

**قاعده:** که (را) متحرکه وه، اعتبار يې خپل حرکت ته دی. که (ضمه يا فتحه) ولري، ډکه، که (کسره) ولري، بيا باريکه ويل کېږي.[1]

**قاعده:** مشدده د متحرکې (را) په حکم کې ده.[1]

**قاعده:** که (را) ساکنه وه بيا يې د ماقبل حرف حرکت ته کتل کېږي.[2] که ماقبل يې (ضمه يا فتحه) وه، نو ډکه ويل کېږي. مثلاً: (تُرجعون، بَرق) او که (کسره) وه، درې شرايط لري: ۱ـ کسره به يې اصلي وي. احترازي مثال: إرجعي. ۲ـ په يوه کليمه کې به وي. احترازي مثال: ام ارتابو. ۳ـ وروسته به يې حروف مستعليه نه وي راغلي. احترازي مثال: قرطاس.

اتفاقي مثال: فِرْعَوْنَ.

**فايده:** که حروف مستعليه په جلا کليمه کې ول، بيا اعتبار نه لري. مثلاً: (فَاصبِر صَبراً).[3]

**تنبيه:** که حروف مستعليه مخته راغلي وو، بيا د درېيو ډلو قاريانو اختلاف دی.[4]

---

(۱) جمال القرآن، ص ٦١.

(۲) جمال القرآن، ص ٦٢.

(۳) جمال القرآن، ص٦٥.

(۴) انعام التجويد، ص ۹۷.

ketabton.com - The Digital Library



**لومړۍ ډله** یې ډکه بولي.

**دلیل:** هرکله چې حرف مستعلیه له (ر) څخه وروسته راسي ډکه ویل کېږي، نو چې مخته یې راسي هم به ډکه ویل کېږي.

**دویمه ډله** یې باریکه بولي.

**دلیل:** هرکله چې حرف مستعلیه وروسته راسي، شروع د (ر) په ډکوالي سره کوو چې وروستنی حرف مستعلیه ته چمتو سو او که مخته راسي بیا امادګي نه غواړي.

**درېیمه ډله:** د (ر) خپل حرکت ته ګورو، اعتبار یې خپل حرکت ته دی.

**درېیمه** ډله یې بهتره ده.[۱]

**تنبیه:** د (مصرَ) را ډکه وایو او (القطرِ) را باریکه وایو.[۲]

**قاعده:** که را ساکنه وه او ماقبل یې هم ساکن و، بیا درېیم حرف ته اعتبار دی.

که درېیم حرف (**ضمه یا فتحه**) درلوده، نو ډکه ویل کېږي. مثلاً: (العُصر القَدر).

که یې کسره لرله بیا باریکه ویل کېږي. مثلاً: (ذِكْرِ).[۳]

**قاعده:** که په حرف (ر) باندې وقف بالروم وسي، اعتبار یې خپل حرکت ته دی.

وقف بالروم په (**ضمه او کسره**) کې د حرکت په درېیمه حصه کېږي. د (ر) نوم (**رامه**) بلل کېږي.[۴]

---

(۱) انعام التجوید، ص ۹۷.

(۲) جمال القرآن، ص ٦٦.

(۳) جمال القرآن، ص ٦٥.

(۴) جمال القرآن، ص ٦٩.

ketabton.com - The Digital Library



**قاعده:** که (را) ساکنه وه او مخته حرف یې (یا) و، نو (را) به همېشه باریکه ویل کېږي؛ ځکه (یا) له دوو کسرو څخه جوړه ده. (۱)

**قاعده:** راء مماله: هغه را ده چې إماله پرې وسي، باریکه ویل کېږي. (إماله)(۲) په لغت کې کږېدلو ته وایي او په اصطلاح کې په دوه ډوله ده: **الف- صغراء:** له فتحې څخه د کسرې طرف ته کږېدل. **ب- کبراء:** له الف څخه د یا طرف ته کږېدل.

د امام حفص (رح) په روایت په ټول قرآن کریم کې یو ځای، دا لفظ دی. (**بسم الله مجرها**) سورة‌هود. په اصل کې (**مجراها**) و، تر میلان وروسته (**مجرها**) سو.

**فایده:** په لفظ د (**فِرقٍ**) کې اختلاف دی:

**اوله ډله** یې ډکه بولي او دلیل یې دا دی چې وروسته یې حرف مستعلیه راغلی دی، چې (ق) دی.

**دویمه ډله** یې باریکه بولي او دلیل یې دا دی چې حرف مستعلیه مکسور راغلی دی.

اصلاً دواړه امرونه جائز دي:(۳)

**قاعده:** پر (ر) مشدده د دوو حروفو وخت نه تېرېږي.

---

(۱) جمال القرآن، ص ٦٥.

(۲) جمال القرآن، ص ٦٨.

(۳) جمال القرآن، ص ٣١. فوائد مکیه ص ٦٣.

ketabton.com - The Digital Library



## اته ویشتم درس

# غُنه

**تعریف:** غنه[1] په لغت کې زمزمې ته وايي یا صوت زائد او یا هم د پوزې له لارې نرمیو ته د اواز تګ غنه بلل کېږي. په اصطلاح کې بیا غنه **الغنة حرف ساكن يخرج من الخيشوم** ته وايي (غنه یو حرف ساکن دی چې له خیشوم څخه راوځي).

**فایده:** غنه په دوه ډوله ده:

۱. **غنه يي (آني)** د (**م او ن**) لپاره صفت لازمي دی چې نه مشدد او نه ساکن وي، دې ته غنه (**حرفي**) هم وايي، ځکه همېشه په حرف کې موجود وي.

۲. **غنه يي (زماني)** کله کله رامنځته کېږي.

دا هم په دوه ډوله ده:

۱. (**اصلي**) غنه په (**م،ن**) کې راځي چې مشدد وي. مثال: (ثمَّ،إنَّ).

**پوښتنه:** ولې اصلي ورته وايي؟

**جواب:** اصلي ځکه ورته وايي چې اصل ذات ته وايي. که اداء نه سي، د حرف ذات به ختم سي. اصل هغه ته وايي چې فرعه لري، دا هم فرعه لري چې راتلونکې غنه يې فرعه ده.

۲. **طبعي يا ضمني غنه:** دا هغه غنه ده چې په طبعیت کې پرته وي،

---

(۱) فوائد مکیه، ص ۳۰. جمال القرآن، ص ۷۰.

ketabton.com - The Digital Library



**قاعده:** هرکله چې تر میم ساکن وروسته حرف (**ب**) راسي، دلته اخفاء کېږي.

**اخفاء:** په لغت کې (**پټولو**) ته وايي او په اصطلاح کې (**حالة بین الإدغام والإظهار**) ته وايي. مثلاً: (ومن یعتصمْ بالله). مطلب د اخفاء دا دی چې د (**میم**) د ادا کولو په خت کې به د دواړو شونډو وچې حصې په آسانۍ او سهولت سره وروړي او د (**ب**) د اداء کولو په وخت کې به د دواړو شونډو لمدې حصې په چابکۍ سره جلا کوي.

**پوښتنه:** ولې (**اخفاء**) کېږي؟

**جواب:** د (**مخرج د نږدېوالي**) په وجه.

**قاعده:** هرکله چې تر (**میم**) ساکن وروسته له (**میم**) او (**ب**) څخه پرته بل حرف راغلی وي، دلته اظهار کېږي. مثلاً: (اَنعَمْتَ). دې ته (اظهار شفوي) وايي.

**پوښتنه:** ولې اظهار شفوي ورته وايي؟

**جواب:** د (**بعد مخرج**) په وجه.[1]

**تنبیه:** ځینې حافظان را ولاړ سوي او له دې درېیو حروفو (**ب، و، ف**) څخه یې د (**بوف**) په نوم یوه قاعده جوړه کړې ده. اصل کې حافظان څلور ډلې دي: (**مخفین، مظهرین، محرکین، محقیقین**).

**مخفین:** په تولو کې اخفاء کوي او دلیل یې دا دی چې هرکله تر میم ساکن وروسته (**ب**) حرف راسي، هلته اخفاء کېږي. نو چې (**و، ف**) یې وروسته راسي هم به اخفاء کېږي؛ ځکه درې واړه حروف شفویه دي، باید حکم یې هم یو وي.

**مظهرین:** په تولو کې اظهار کوي او دلیل یې دا دی چې هرکله تر میم ساکن

(۱) جمال القرآن، ص ۴۹.

ketabton.com - The Digital Library



وروسته (**و، ف**) راسي، هلته اظهار کېږي. نو چې وروسته یې حرف (**ب**) راسي هم اظهار کېږي؛ ځکه درې واړه شفویه حروف دي. باید حکم یې هم یو وي.[۱]

**تنبیه:** دغه دواړه قوله ضعیف دي.[۲]

**محرکین:** بیا میم ساکن ته یو ډول حرکت ورکوي. دا قول غلط دی؛ ځکه دا لحن جلي دی.

**محققین:** وایي چې هرکله تر میم ساکن وروسته (**ب**) حرف راسي، نو هلته اخفاء کېږي؛ ځکه چې (**ب**) تر (**واو، ف**) میم ته په مخرج کې نېږدې ده؛ ځکه دلته انضمام شفتین راځي او په (**میم**) کې د شونډو وچه حصه او په (**ب**) کې لمده حصه سره یو ځای کېږي. لکن په (**و، ف**) کې داسې نه ده، یعنې انضمام شفتین نسته، نو هلته اظهار کېږي.

**تنبیه:** دا د محققینو روایت حق دی.[۳]

---

(۱) جمال القرآن، ص ۷۳.

(۲) جمال القرآن، ص ۷۴.

(۳) جمال القرآن، ص ۷۴.

ketabton.com - The Digital Library



اصلاً قانون د بل شي وي، دا په ضمن کـــې ورسره وي او دا غنه په پنځو ځایونو کې راځي:

۱ . هرکله چې تر میم ساکن وروسته بل میم راسي، اصلاً قانون د **ادغام** دی؛ لکن غنه په ضمن او طبعه کې ورسره ده.


۲ . کله چې د میم ساکن وروسته (**ب**) راسي، اصلاً قانون د اخفاء **شفوي** دی؛ لکن غنه په ذات کې ورسره ده.

۳ . کله چې تر نون ساکن وروسته یو حرف د حروفو (**یمنو**) څخه راسي، اصلاً قانون د ادغام دی خو غنه په ذات کې ورسره ده.

۴ . هرکله چې تر نون ساکن وروسته یو حرف د اخفاء له حروفو څخه راسي، اصلاً قانون د اخفاء دی، خو په ضمن کې غنه ورسره سته. د اخفاء حروف: (**ت، ث، ج، د، ر، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ق، ک، ف**).

۵ . هرکله چې تر نون ساکن وروسته حرف (**ب**) راسي، اصلاً قانون د **اقلاب** دی لکن غنه په طبعه کې ورسره ده.

**تنبیه:** دا غنه د یو الف په اندازه ده او د الف اندازه خلاصه گوته بنده کړه، بنده گوته خلاصه کړه. اصلاً له استاد څخه زده کول ضروري دي.[1]




(۱) فوائد مکیه، ص ۹۵.

ketabton.com - The Digital Library



## نهه ویشتم درس

# میم ساکن

**تنبیه:** د دغه میم لپاره درې حالته دي: (**ادغام، اخفاء، اظهار**).[۱]

**قاعده:** هرکله چې تر میم ساکن وروسته بل میم متحرک راسي، مثال: (الیکم مُرسلون). دلته ادغام کېږي او (ادغام صغیر مثلین) ورته وایي.

**پوښتنه:** ولې (**ادغام**) کېږي؟

**جواب:** د (**اتحاد مخرج**) په وجه.

**پوښتنه:** ولې (**ادغام**) ورته وایي؟

**جواب:** ځکه ادغام په لغت کې (**ادخالُ شيءٍ بالشيء**) ته وایي، یعنې داخلول د یو شي په بل شي کې. اوس هم د (**الیکم**) میم د (**مرسلون**) په میم کې داخل سو.

**پوښتنه:** ولې (**صغیر**) ورته وایي؟

**جواب:** صغیر ځکه ورته وایي چې اول (**میم**) په صورت کې پاتې دی.

**پوښتنه:** ولې (**مثلین**) ورته وایي؟

**جواب:** مدغم او مدغم فیه، حروف دواړه په مخرج او صفاتو کې یو دي. دې ته مثلین وایي.

(۱) جمال القرآن، ص ۷۱.

ketabton.com - The Digital Library



## دیرشم درس

# نون ساکن

**تنبیه:** د نون ساکن لپاره څلور حالتونه دي: (**اظهار، اقلاب، اخفاء، ادغام**).[۱]

**قاعده:** هرکله چې تر نون ساکن یا تنوین وروسته له حلقي حروفو څخه یو حرف راسي، دلته اظهار کېږي. مثلاً: (مِنْ خَوف، انْعمت، سوآءٌ علیهِمْ). دغه اظهار ته اظهار حلقي وايي.

**پوښتنه:** ولې (**اظهار حلقي**) ورته وايي؟

**جواب:** اظهار ښکاره کېدو ته وايي او حلق ستوني ته. مطلب په دغه وخت کې يې اواز په ستوني کې راښکاره کېږي.

**پوښتنه:** ولې (**اظهار**) کېږي؟

**جواب:** د نون ساکن او حلقي حروفو تر منځ (**بعد مخرج**) دی.

**تنبیه:** حلقي حروف شپږ دي: (**همزه، ه، ع، ح، غ، خ**) چې حروف اظهار هم ورته وايي.

**قاعده:** هرکله چې تر نون ساکن او تنوین وروسته (**ب**) حرف راسي، دلته (**اقلاب**) کېږي. نون ساکن او تنوین په میم بدلیږي. مثال: (مِنْ بَعد، سمیعٌ بَصیر).

---

(۱) جمال القرآن، ص ۷۵.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** ولې اقلاب په میم کېږي؟

**جواب:** د (**میم**) او (**با**) په منځ کې قرب مخرج دی، نو (**ب**) دا تقاضا کوي چې زما ماقبل دې زما له جنس څخه سي.

**قاعده:** هرکله چې تر نون ساکن او تنوین وروسته پرته د حروفو (**حلقي، یرملون او ب**) څخه بل حرف راغلی وي، دلته اخفاء کېږي او دې ته اخفاء حقیقي وایي.

**پوښتنه:** ولې اخفاء کېږي؟

**جواب:** د نون ساکن او د دغو حروفو ترمنځ نه دومره قرب مخرج سته لکه د ادغام د حروفو او نه دومره زیات بعد مخرج لکه د اظهار د حروفو. دا نو توسط في المخرج سو.

**پوښتنه:** ولې اخفاء حقیقي ورته وایي؟

**جواب:** اخفاء په لغت کې (**پټوالي**) ته وایي او په اصطلاح کې حالة بین الادغام والإظهار دی. حقیقي ځکه ورته وایي چې اواز خپل حقیقي مخرج ته ځي چې (**خیشوم**) دی.

**تنبیه:** له ۲۹ حروفو څخه ۱۳ حروف کم سول ۱۵ حروف پاتې سول.

**پوښتنه:** باید ۱۶ حروف پاتې سوي وای. دا ولې؟

**جواب:** الف مستثنی دی؛ ځکه تر نون ساکن او تنوین وروسته که الف راسي بیا (**التقاء ساکنین**) «علیٰ غیر حده» راځي.

**قاعده:** هرکله چې تر نون ساکن او تنوین وروسته یو له یرملون حروفو څخه راسي، دلته (**ادغام**) کېږي. مثلاً: (وَمَنْ يَّرغَبُ، بَرْقٌ يَّجْعَلُوْنَ.)

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** ولې ادغام کبېږي؟

**جواب:** د زیات (**قرب مخرج**) په وجه.

**پوښتنه:** زه به یې در وښیم چې تر نون ساکن وروسته به د یرملون حروف راغلي وي لکن ادغام به نه وي سوی لکه: (قنْوانٌ، بنْیانٌ، صنْوانٌ، دنْیا) دا ولې؟

**جواب:** ۱-د ادغام لپاره یو شرط دا هم دی چې (**نون ساکن**) او (**تنوین**) به په جلا کلیمه کې او یرملون حروف به په جلا کلیمه کې وي؛ مګر دلته هغه شرط نشته. ۲- دلته که ادغام وسي بیا یې مشابهت د مضاعف سره راځي، یعنې د کلیمې دوه اصلي حروف به له یوه جنس څخه سي. ۳ـ که ادغام وسي بیا یې معنا خرابیږي .[1]

---

(۱) جمال القرآن، ص ۷۷.

ketabton.com - The Digital Library



## یو دیرشم درس

# ادغام

**ادغام:** په دوه ډوله دی: (**تام**) او (**ناقص**).(۱)

**۱ . تام ادغام:** هغه دی چې مدغم حرف صورتاً پاتې نه سي. مثلاً: (إِلَّا) چې په اصل کې (ان لا) وو نو (نون) په (لام) کې داسې مدغم سو چې هېڅ صفت يې پاتې نه سو.

**۲ . ناقص ادغام:** هغه دی چې مدغم حرف صورتاً پاتې وي. مثلاً: (اَنْ يَّجْعَلُوْ) (نون) په (یا) کې مدغم سوی دی؛ خو د نون صورت پاتې دی.

**پوښتنه:** ۱- په ځینو تجویدونو کې د (میم ساکن) لپاره څلور او دلته بیا درې حالتونه ذکر سوي دي. دا ولې؟ ۲- د (نون ساکن) لپاره بیا پنځه او دلته څلور حالتونه ذکر سوي دي. دا ولې؟

**جواب:** هغه یو یو حالت يې د (غُنې) دی چې موږ مخکې بحث پرې وکړ.(۲)

**تنبیه:** د حکم په اعتبار سره ادغام پر دوه ډوله دی: (**ادغام واجب**) او (**ادغام جائز**) په مثلین او متجانسین حروفو کې ادغام واجب دی.

په متقاربین حروفو کې بیا ادغام جائز دی.(۳)

---

(۱) فوائد مکیه، ص ۳۳.

(۲)لؤلؤ والمرجان، ص ۵۳.

(۳) فوائد مکیه، ص ۳۴.

ketabton.com - The Digital Library



## دوه دیرشم درس

# هاء ضمیر

**هاء ضمیر[۱] به په څلورو شرطونو سره مشروطه وي:**

۱ . د اصلي کلیمې به نه وي، زائده به وي.

۲ . د کلیمې په اخر کې به وي.

۳ . اشاره به پرې سوې وي، یعنې ځای د مرجع به لري.

۴ . د مذکر لپاره به وي؛ ځکه د (**هاء**) ضمیر وضع اولاً د مذکر لپاره سوې ده، که الف پسې وصل راسي، بیا د مؤنث لپاره راځي.

هرکله چې د (**هاء**) ضمیر په دغو څلورو شرایطو موافق راغی بیا د دغه ضمیر لپاره څلور قاعدې سته:

**لومړۍ قاعده:** هرکله چې تر (**هاء**) ضمیر مخته (کسره) یا (ی) ساکنه راغلې وي، دلته قانون دا دی چې (**هاء**) ضمیر به مکسور وي. مثلاً: (إليْهِ) (بِهِ).

**پوښتنه:** دوه ځایه د دغه قانون مخالفت سوی دی:

۱ . (وما انسانِيْهُ) سورة کهف.

۲ . (علَيْهُ الله) سورةالفتح.

**جواب:** دلته د اصل متابعت سوی او په اصل کې (**هاء**) مضمومه ده.

---

(۱) فوائد مکیه، ص ۳۱. انعام التجوید، ص ۱۰۱.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** دوه ځایه نور هم مخالفت سوی دی: (فالقهْ) و (اَرْجِهْ) کې، دا ولې؟

**جواب:** دا دواړه امرونه دي. له (**باب**) څخه د (معتلُ الام) ځکه دا په اصل کې (**القیه، ارجیه**) و، نو جزم د (**یا**) پر حرف وسو او هغه یې حذف کړه، نو (**هاء**) ضمیر یې پر ځای ودرېد. اوس حالاً جزم د (**هاء**) پر ضمیر سوی دی.

**دویمه قاعده:** هرکله چې تر (**هاء**) ضمیر مخته نه (**کسره او نه ی**) یې ساکنه راغلې وي، بل چې هر حرکت یا حرف وي، په دغه وخت کې (**هاء**) ضمیر مضمومه ویل کېږي. لکه: (لَهُ، آخَاهُ، رایتموه، رَسُولَهُ، مِنْهُ).

**پوښتنه:** یو ځای د دغه قاعدې مخالفت راغلی دی: (وَیَتَقْهِ)، دا ولې؟

**جواب:** دا په اصل کې (وَیَتَقِیْهِ) و، کله چې د شرط په جزاء کې راغی، نو حرف (**یا**) حذف سوه او (**هاء**) ضمیر په خپل حال پاتې سوه.

**درېیمه قاعده:** هرکله چې د (**هاء**) ضمیر څخه مخته او وروسته حروف متحرک و، نو بیا به (**هاء**) په صله سره ویل کېږي او د (**هاء**) ضمیر حرکت د مخکې قانون موافق ورکول کېږي او دې ته (**صله**) یا (**مد زائد**) وایي. په عربي قانون کې ورته (**اشباع**) وایي. یوازې د (**هاء**) د حرکت کشولو ته (**صله**) وایي.

**تنبیه:** (**صله**) په دوه ډوله ده:

- **صله کبراء:** کله چې تر (**هاء**) ضمیر وروسته (**همزه**) راسي. مثلاً: (مالهُ أخلده).
- **صله صغراء:** چې له (**هاء**) ضمیر څخه وروسته (**همزه**) نه وي راغلې. مثال: (رَبُّهُ فَتَابَ).

**تنبیه:** د (**صغراء**) د کشولو اندازه یو الف او (**کبرآء**) د درې الف په اندازه ده.

ketabton.com - The Digital Library



دویم قول بیا د دوارو لپاره په یوه (**الف**) قائل دی او دا قول اصح هم دی.

**پوښتنه:** یو ځای د عامې قاعدې مخالفت سوی دی لکه: (يَرْضَهُ لَكُمْ) دا ولې؟

**جواب:** دلته د خپل اصل په خاطر (**صله**) نه ده سوې؛ ځکه د دې اصل (يَرْضَاهُ لَكُمْ) و.

**قاعده:** کله چې د (**هاء**) ضمير ماقبل یا مابعد ساکن وي، نو دلته (**صله**) نه کېږي.

**پوښتنه:** یو ځای د عامې قاعدې مخالفت سوی دی لکه: (فِيْهِ مُهاناً) دا ولې؟

**جواب:** دا د امام ابن کثیر مکي (رح) په قول سوی او دا قول د قراو سبعه وو څخه یو مشهور قول دی. نو دلته به جمع د روایتونو راسي. ۱- (امام حفص رحمه الله) او۲ (امام ابن کثیر مکي رحمه الله).(۱)

**تنبيه:** په قران کریم کې یوه (**هاء**) سته چې په وقف او وصل کې ساکنه وي او دغه (**هاء**) ته ها یې سکته وايي. اول سورت الحاقة کې ۱ (ماليه) آیت نمبر ۲۸. ۲ (حسابيه) آیت نمبر ۲۰. ۳ (حسابيه) آیت نمبر ۲۶. ۴ (سلطانيه) آیت نمبر ۲۹. ۵ (كِتٰبِيه) آیت نمبر ۱۹. ٦ (كِتٰبِيه) آیت نمبر ۲۵. دويم سورت القارعة. ۷(ماهيه) آیت نمبر ۱۰. دریيم سورة بقرة. ۸ (لم يتسنه) آية نمبر ۲۵۹.
څلورم سورة الانعام ۹ (اقتده) آية نمبر ۹۰.(۲)

---

(۱) فواید مکیه، ص ٦۰.

(۲) معلم التجوید، ص ۱۷۱.

ketabton.com - The Digital Library



## دري دیرشم درس

# همزه

**قاعده:** همزه د خپل ذات په خاطر په دوه ډوله ده: (**وصلي**) او (**قطعي**).[۱]

**وصلي همزه:** هغه ده چې په وصل کې حذف کېږي او په وقف کې ثابته پاتې کېږي. مثلاً: (**همزه**) د (**الحمدلله**).

**قطعي همزه:** هغه ده چې نه په وصل او نه هم په وقف کې حذف کېږي. مثلاً: (همزه) د (أَرَأَیْتَ الَّذِي).

همزه يې قطعي ۸ ډوله استعمالیږي:

۱ . د افعال د باب همزه. مثال: (اَنْزَلَ).

۲ . د متكلم د باب همزه. مثال: (إِنِّيْ اَعْلَمُ)

۳ . د جمعي همزه. مثال: (اَنْصَارُالله).

۴ . د تعجب همزه. مثال: (مَااَضْرَبَهُ).

۵ . د اعلامو همزه. مثال: (اَحْمَدْ).

٦ . د اعجامو همزه. مثال: (إِبْرَاهِیْمُ).

۷ . د استفهام همزه. مثال: (اَتَعْجَبِیْنَ).

۸ . د بناء همزه. مثال: (إِنَّ، اَنَّ).

(۱) معلم التجوید، ص ۱۴۱. فوائد مکیه، ص ۳۸. انعام التجوید، ص ۱۰۵.

ketabton.com - The Digital Library



**قاعده:** همزه د محل په اعتبار هم په دوه ډوله ده: (**اصلي او زائده**).

**اصلي همزه:** هغه ده چې د کليمې له اصلي حروفو څخه وي. مثلاً: (اَمَرَ، سَئَلَ، قَرَءَ).

**زائده همزه:** هغه ده چې د کليمې له اصلي حروفو څخه نه وي. مثلاً (اَكْرَمَ).

**قاعده:** د (**همزه**) لپاره پنځه احوال دي:

۱ . **حذف:** چې همزه بالکل له منځ څخه ولاړه سي.

۲ . **تسهيل:** چې همزه د خپل او ماقبل د حرکت په مابين کې ادا سي.

۳ . **ابدال:** د ماقبل د حرکت مطابق په حرف علت بدله سي. لکه (اٰمَنَ، اُوْمِنَ، اِيْمَانٌ).

۴ . **تحقيق:** چې تر خپل مخرج لوړه ادا سي. لکه اوله همزه د (ءاعْجَمِيٌّ).

۵ . **تعديل:** چې په خپل مخرج کې صحيح ادا سي.

**قاعده:** د همزه او الف تر منځ څلور توپيرونه سته:

**اول:** الف هر وخت مده وي او همزه هيڅکله مده نسي کېدلای.

**دويم:** الف هر وخت ساکن وي او همزه کله ساکنه او کله متحرکه وي.

**دريم:** همزه ساکنه له جټکې سره او الف نرم او پرته له جټکې څخه تلفظ کېږي.

**څلورم:** همزه د کليمې په سر کې راتلای سي، صرف د الف په شکل ليکلې وي، مگر الف د کليمې په منځ او پای کې راځي.

ketabton.com - The Digital Library



# خلور دیرشم درس

## همزه[۱]

**قاعده:** هرکله که دوې (**همزې**) سره جمع سوې، اول (**استفهامیه**) دویم (**وصلیه**) و. خو وصلیه مفتوح و، دلته تسهیل او ابدال دواړه جائز دي. خو اولٰی یې ابدال دی. د دې مثالونه په ټول قرآن شریف کې شپږ ځایه راځي:

۱ . (آللّه) چې اصل یې (ءَاَللّٰه) و. دوه ځایه راځي: ۱- (سورة-یونس). ۲- (سورة-النمل).

۲ . (آلْئٰنَ) چې اصل یې (ءَاَلْئٰنَ) و. دوه ځایه راځي، په (سورة-یونس) کې.

۳ . (آلذَّکَرَیْنَ) چې اصل یې (ءَاَلذَّکَرَیْنَ ) و. دوه ځایه راځي په (سورة الانعام) کې.

**پوښتنه:** ولې یې په (**ابدال**) حکم کړی؛ خو په (**تسهیل**) به یې حکم کړی وای؟

**جواب:** که په تسهیل حکم سوی وای، نو د (همزه) وو ترمابین به فرق نه وای راغلی.

**قاعده:** هرکله چې دوې همزې سره جمع سوې، اول (**استفهامیه، قطعي**) وه او دویمه همزه (**وصلیه**) او مکسوره وه؛ نو قانون دا دی چې دویمه همزه به حذف کېږي. مثلاً: (اَفْتَرٰی عَلَی اللهِ) اصل یې (اَاِفْتَرٰی عَلَی اللهِ).

**پوښتنه:** په دغه قانون کې مو ولې په (**حذف**) حکم وکړ؟ خو دا هم د مخکې قانون په څېر دی او یا به مو په مخکې قانون کې هم د (**حذف**) حکم کړی وای، دا ولې؟

(۱) معلم التجوید، ص ۱۴۳. انعام التجوید، ص ۱۰۷.

ketabton.com - The Digital Library



**جواب:** په مخکې قانون کې مو ځکه (**ابدال**) وکړ چې د جملو التباس را نسي او په دو هم ځای کې که حذف ونسي، بیا د جملي (**انشائيي**) او (**خبريي**) توپیر نه راځي.

**قاعده:** همزه که ساکنه وي او که متحرکه، باید ښه صفا ادا سي. د (امام حفص رحمه الله) یو روایت دا دی چې هرکله (**همزه**) تر ساکن حرف وروسته راسي، باید سکته پرې وسي. خو هغه قاریان چې په تلاوت کې یې مشکل نه وي، هغه که سکته ونه کړي، فرق نه لري.

**قاعده:** د (**الف لام**) تعرفي همزه به همیشه (**مفتوحه**) وي. مثال: (اَلْحَمْدُلله).

**قاعده:** د اسم همزه به همېشه (**مکسوره**) وي. مثال: (اِنْتِقَامَ).

**قاعده:** د فعل همزه به د (**عین**) د کلیمې موافق وي. مثال: (اِضْرِبْ، اُنْصُرْ، اَفْتَحُ).

**پوښتنه:** هغه د امر (**صیغه**) چې عین یې مفتوح وي (**همزه**) یې ولې مکسوره وي؟ مثال: (اِعْلَمْ).

**جواب:** که همزه یې مفتوحه سي بیا یې د (**متکلم**) د (**صیغې**) سره مشابهت راځي.

**فایده:** د متکلم (**همزه**) قطعي او د امر (**همزه**) وصلي ده.

**پوښتنه:** په (اِمْشُوا، اِتَّقُوا، اِیْتُوا) کې ولې موافقت نه دی سوی؟

**جواب:** دلته د (**عین**) د کلیمې حرکت عارضي دی؛ ځکه چې د دغه مذکوره مثالونو اصل دا رقم و: (اِمْشِیُوْا، اِتَّقِیُوْا، اِیْتِیُوْا). په دري واړو مثالونو کې د (**یا**) حرکت ماقبل ته نقل سوی او که یې حرکت اصلي وای، بیا یې موافقت لازم و.

ketabton.com - The Digital Library



# پنځه دیرشم درس

## ادغام

**تعریف:** ادغام په **لغت** کې (**ادخال شيءٍ بالشيء**) ته وايي او په **اصطلاح** کې (**ادخال حرف ساکن في حرف محرک بحيث يجعلان حرفًا واحدًا مشددًا**) ته وايي.

ادغام د مطلقو اقسامو په اعتبار پر څلور ډوله دی:[۱]




۱ . **ادغام مثلین:** هغه ادغام دی چې د ادغام حروف په مخرج او صفاتو کې یو وي. یعني حرف تکرار سوی وي. مثلاً: (اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ).

۲ . **ادغام متقاربین:** هغه ادغام ته وايي چې د ادغام حروف (**قرب مخرج**) سره لري. لکه: (ق، ک، ن، ل، ر). مثلاً: (اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ).

(۱) فوائد مکیه، ص ۳۳. انعام التجوید ص ۱۱۰.

ketabton.com - The Digital Library



۳ . **ادغام متجانسین:** هغه ادغام ته وايي چې د ادغام حروف په مخرج کې یو او په صفاتو کې جلاوي. لکه: (ط، ت، ث، ذ). مثال: (وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ).

۴ . **ادغام متحدین:** هغه ادغام ته وايي چې د ادغام حروف په صفاتو کې یو وي او په مخرج کې سره جلا وي. لکه: (ن، م). مثال: (عَنْ مَّا).

## ادغام د صفت په اعتبار په دوه ډوله دی:[۱]

۱ . **ادغام تام:** چې د مدغم حرف هیڅ صفت پاتې نه سي. مثلاً: (وَقُلْ رَّبِّ).

۲ . **ادغام ناقص:** چې د مدغم حرف یو صفت پاتې سي. مثلاً: (مَنْ يَّقُوْلَ، مِنْ وَّالٍ).

## ادغام د حکم په اعتبار په درې ډوله دی:[۱]

۱ . **واجب:** چې اول حرف مخکې له مخکې ساکن وي.

۲ . **جائز:** چې اول حرف د ادغام په وجه ساکن سي.

۳ . **ممتنع:** چې اول حرف متحرک وي او ثاني ساکن وي؛ ځکه دلته د ادغام شرط نیستي دی.

## ادغام د عمل په اعتبار پر دوه ډوله دی:[۱]

۱ . **ادغام کبیر:** چې د مدغم حرف بوی لا پاتې نه سي. مثال: (إِلَّا) چې اصل یې (اِنْ لَا) و.

۲ . **ادغام صغیر:** د مدغم حرف ذات پاتې سي. مثال: (اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ).

---

(۱) انعام التجوید، ص ۱۱۱.

ketabton.com - The Digital Library



**قاعده:** هرکله که دوه (**واوه**) یا دوې (**یاګانې**) سره جمع سوې، اول مده و دلته ادغام نه کېږي، ځکه د اول حرف د مدیت صفت خرابېږي. مثال: (قَالُوْا وَهُمْ، فِيْ يَوْمٍ).[۱]

**قاعده:** د ادغام په وجه (**مدغم فیه**) حرف مشدد کېږي، باید د دوو حروفو وخت پرې تېر سي.

**قاعده:** هر هغه (مثلین، متجانسین، متقاربین، متحدین) حروف چې په منځ کې یې ادغام نه وي سوی، باید ښه صفا صفا وویل سي.[۲]

**پوښتنه:** تر نون ساکن وروسته (**یرملون**) حروف راغلي دي، خو ادغام نه دی سوی. مثال: (نٓ وَالْقَلَمِ، يٰسٓ وَالْقُرْآنِ). دا ولې؟

**جواب:** د لفظ او معنا په لحاظ حروف مقطعات له نورو حروفو څخه جلا دي. نو دلته اظهار کېږي؛ ځکه که ادغام وسي، نو د قطعیت صفت ته تاوان رسېږي. په کوم قول چې ادغام ثابت دی هغه ډېر ضعیف دی.[۳]

**قاعده:** د مقطعاتو حروفو ترمنځ ادغام جائز دی؛ ځکه د قطعیت صفت یې پاتې کېږي. مثلاً: (طٰسٓمٓ).[۴]

---

(۱) فوائد مکیه، ص ۳۴.

(۲) فوائد مکیه، ص ٦٣.

(۳) انعام التجوید، ص ۱۱۲.

(۴) انعام التجوید، ص ۱۱۲.

ketabton.com - The Digital Library



## شپږ دیرشم درس

# اجتماع ساکنین

**قاعده:** اجتماع ساکنین[۱] په دوه ډوله ده: (**علٰی حده**) او (**علٰی غیرحده**).

۱ . **علٰی حده:** به پر خپلو شرایطو برابر او موافق وي دا **جائز** ده او دوه شرطه لري: (**اول شرط**): اول ساکن حرف به مده وي. (**دویم شرط**): دا ساکن حرف به په همدغه کلیمه کې وي. مثلاً: (دَآبَّةٍ، كَآفَّةً).

۲ . **علٰی غیرحده:** چې پر خپل شرایطو برابر نه وي، دا **ناجائزه** ده.

**قاعده:** هرکله که اجتماع علٰی غیرحده راغله او اول ساکن مده هم و، نو اول ساکن حذفوو. مثال: (**فِى الْاَرْضَ**) دلته (**ى**) حذف سوه.

**قاعده:** هرکله که اجتماع علٰی غیرحده راغله، خو اول ساکن مده نه و، نو بیا دغه ساکن ته د کسرې حرکت ورکوو. مثال: (**اِنِ اَرْتَبْتُمْ**) (**نون**) مکسور سو.

**قاعده:** که اجتماع علٰی غیرحده راغله، خو اول ساکن (**میم**) د جمعې و، نو دغه (**میم**) ته به ضمه ورکول کېږي. مثال: (**عَلَيْكُمُ الصِّيَامَ**) چې دال پر جمع سي.

**قاعده:** (**بِئْسَ الاِ سْمُ الْفُسُوْقَ**)[۲] اصل یې (اَلْاِسْمُ) و اوله (**همزه**) د وصل په خاطر حذف سوه. دویمه (**همزه**) د تخفیف په خاطر حذف سوه او (**لام**) ته یې کسره ورکړه. دا قانون دی: (**الساكن اذا حرك حرک بالكسرة**).

---

(۱) انعام التجوید، ص ۱۱۲.او فوائد مکیه، ص ۴۴.

(۲) سورة الحجرآت، آیت ۱۱.

ketabton.com - The Digital Library



**قاعده:** که د کلیمې په پای کې دوه (**زوره یا زېره یا پېښه**) راغلي وو، نو دا به په تنوین لیکل کېږي، ځکه که حالت د وقف و، دوه (**زېره او پېښه**) حذف کېږي او دوه (**زوره**) بیا په الف بدلېږي. مثال: (قَدِيْرٌ، بِرَسُولٍ، بَصِيْرًا) او که حالت د وصل و او په وروسته کلیمه کې وصلي (**همزه**) راغلې وه، نو (**همزه**) به حذف سي او تنوین به په کوچني نون مکسوره بدل سي؛ ځکه چې بیا التقاء د تنوین او وروستني ساکن حرف رانه سي او کسره یې د عمومي قانون په وجه ورکړه. مثال: (بِزِيْنَةِنِ الْكَوَاكِبْ).

**تنبیه:** دغه نون ته نون (**قطني**) وایي؛ ځکه قطن پنبې ته وایي او پنبه پر زخم ایښودل کېږي. نو دلته هم کلیمه زخمي سوه، نو نون قطني ورته راوړل سو.

**تنبیه:** که پر (**بِزِيْنَةٍ**) وقف وسي بیا دغه (ة) په (**هاء**) بدلېږي او وروسته به نون قطني نه ویل کېږي، کوم کسان یې چې وایي دا غلط دی، دوی ناخبره دي.[1]

---

(۱) انعام التجوید، ص ۱۱۷.

ketabton.com - The Digital Library



# اووه دیرشم درس

## مـــد

**تنبیه:** د مد تر پیلولو مخکې شپږ شیان پېژندل ضروري دي: ۱- لغوي او اصطلاحي معنا. ۲- ثبوت. ۳- محل. ۴- اسباب. ۵- اندازه. ٦- اقسام.[۱]

• **اول: تعریف:** مد په لغت کې مطلق اوږدوالي ته وايي او په اصطلاح کې (اطالة الصوت مع النفس بالحروف لین اوالمدة).

• **دویم: ثبوت:**

← **اول):** له عبدالله ابن مسعود (رضي الله عنه) څخه روایت دی. وايي یوه ورځ له پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) سره ناست و چې یو کس راغی او په مسجد نبوي کې یې تلاوت شروع کړ، کله چې د (**للفقرآء**) لفظ ته را ورسېد (**مد**) یې ونه کړ، نو پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) له تلاوت څخه منع کړ چې (**مد**) دې ونه کړ.

← **دویم):** یوه ورځ عبد الله ابن مسعود (رضي الله عنه) په مسجد نبوي کې ناست و چې یو صحابي راغلی او تلاوت یې شروع کړ کله چې د (**للفقرآء**) پر (**لفظ**) یې (**مد**) ونه کړ؛ نو عبدالله ابن مسعود (رضي الله عنه) منع کړ چې (**مد**) دې ونه کړ، موږ ته چې به رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تلاوت کاوه، دلته به یې (**مد**) کاوه، تا پرېښود.[۲]

---

(۱) انعام التجوید، ص ۱۱۸.

(۲) غایة المرید في علم التجوید.

ketabton.com - The Digital Library



← **درېیم:** له بي بي عایشې (رضي الله عنها) څخه یو صحابي پوښتنه وکړه: «ماكان تلاوت رسول الله ﷺ؟» بي بي عایشې (رضي الله عنها) جواب ورکړ: «كان يمد مداً»[1]. یعنې تلاوت یې په مد کولو سره کاوه.

← **څلورم:** له حضرت انس (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې رسول الله (ﷺ) به په بسم الله کې درې ځایه (**مد**) کوی. (**الله، الرَّحمٰن، الرَّحيم**).

← **پنځم:** له حضرت قتاده (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې ما له حضرت انس (رضي الله عنه) څخه پوښتنه وکړه چې د رسول الله (ﷺ) تلاوت څه ډول و. انس (رضي الله عنه) راته وویل: «كان يمد صوته مداً».[2]

• **درېیم: محل:** د مد حروف درې دي (**واو، الف، یا**) په دې شرط چې ساکن وي او د ماقبل حرکت یې له خپله جنسه وي.

**پوښتنه:** ولې یې په **۲۹** حروفو کې دغه درې حروف د مد لپاره خاص کړل؟

**جواب:** د (**۳**) وجهو په خاطر:

۱: (**واضع**) وضع کړي دي. ۲: دغه درې حروف له (**حرکتو**) څخه جوړ دي. هرکله چې د ماقبل حرکت یې له خپل جنس څخه سي او مد پرې وسي، نو ښه موافقت یې راځي. ۳: کله چې ساکن هم وي، د ماقبل حرکت یې هم د خپل جنس څخه وي، بیا اواز نه راګرځي چې مد ونه کړل سي.[3]

• **څلورم: اسباب:** د (**مد**) اسباب دوه دي: (**همزه**) او (**سکون**).

---

(۱) صحيح البخاري، رقم ۵۰۴۵.

(۲) فتح الباري، ج ۹، ص ۹۰.

(۳) انعام التجويد، ص ۱۱۹.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** ولې دغه دوه انتخاب سوي دي؟

**جواب:** (**همزه**) قوي حرف دی او (**مد**) ضعيف، نو کله چې پر دا ضعيف حرف مد وکړي، نو د قوي او ضعيف ښه فرق راځي او (**سکون**) ځکه انتخاب سو چې د دوو ساکنو ښه جلاوالی راسي. (**حرف مده او وروسته ساکن**).

• **پنځم: د مد اندازه:**

**مد اصلي:** يو الف کش کېږي. **مد فرعي:** دوه يا درې الف کش کېږي. د (**الف**) اندازه خلاصه گوته بنده کړه او بنده گوته خلاصه کړه.

• **شپږم: د مد اقسام:** دوه دي (**اصلي او فرعي**):

**مد اصلي**: هلته کېږي چې (**واو، الف، ياء**) ساکن وي او د ماقبل حرکت يې له خپله جنسه وي او د مد پر اسبابو موقوفه نه وي او دا (**مد**) د حرف په ذات کې پروت دی. که مد ونه سي، نو د حرف ذات به ختم سي. مثال: (قَالُوْ، قِيْلَ، قَالَ).

**مد اصلي:** درې نومونه لري:

۱ . **اصلي:** اصلي ځکه ورته وايي چې فرعه لري.

۲ . **ذاتي:** ذاتي ځکه ورته وايي، که (**مد**) ونه سي، نو د حرف ذات به ختم سي.

۳ . **طبعي:** طبعي؛ ځکه ورته وايي چې د حروفو مده وو په طبع کې پروت دی.

ketabton.com - The Digital Library



## اته دېرشم درس

## د مد اصلي ډولونه

مد اصلي په شپږ ډوله دی:[(۱)]

• **اول: مد عوض:** کله چې (**دوه**) زوره په وقف کې په الف بدل سي.
مثلاً: (افواجًا).

**پوښتنه:** ولې دوه پېښه په (**واو**) نه بدلېږي؟

**جواب:** که بدل سي بیا یې د جمعې له واو سره التباس راځي.

**پوښتنه:** ولې دوه (**زېره**) په یا نه بدلېږي؟

**جواب:** که بدل سي بیا یې د (**یا**) له متکلم سره التباس راځي.

• **دویم: مد بدل:** کله چې دوه (**همزه ګان**) سره جمع سي اول متحرک او ثاني ساکن وي، ثاني د اول د حرکت مطابق په حرف علت بدل سي.
مثلاً: (اٰمَنَ، اُومِنَ، إِيْمَانٌ).

• **درییم: مد زائد:** هرکله چې د هاء (**ضمیر**) ماقبل او مابعد متحرک وي، نو اشباع کبرې او دې اشباع ته (**مد زائد**) وایي. (**صله**) هم ورته وایي او (**مد زائد**) ځکه ورته وایي چې اصلاً خو حرکت و، وروسته حرف پرې زیات سو. لکه: (اِنَّهُ، لَهُ، وَمْرَاَتُهُ).

(۱) انعام التجوید، ص ۱۲۱.

ketabton.com - The Digital Library



- **څلورم: مد تمکین:** دوه حروف علته راغلي وي، اول ساکن او ثاني يې متحرک وي، نو پر اول ساکن مد کېږي. مثلاً: (قَالُوْاوَهُمْ، فِيْ يَوْمٍ).
- **پنځم: مد تعظیم:** چې پر لفظ د الله جلاله باندې مد وسي. مثلاً: (الله جَلَّ جَلَالُهُ).
- **شپږم: مد اصلي:** ذکره آنفاً.

## مد فرعي

**تعريف:** هرکله چې (**واو، یا، الف**) ساکن او د ماقبل حرکت يې له خپل جنس څخه وي او پر اسباب د (**مد**) موقوفه وي چې (**همزه او سکون**) دي، دغه ته مد فرعي وايي.

**پوښتنه:** ولې ورته مد فرعي وايي؟

**جواب:** ځکه په کشولو کې د مد اصلي تابع دی؛ ځکه چې درې الفه کشېږي. مد فرعي په ۱۲ ډوله دی او اندازه يې درې یا درې نیم الفه ده.

- **اول) مد متصل:** هرکله چې تر حروف مده وروسته (همزه) راسي. درې شرایطه به لري: ۱-په یوه کلیمه کې به وي.۲- د مد علامه به یې ډبله وي. ۳- همزه به یې د عین د سر په شکل وي. مثلا: (جَآءَ، سُوٓءَ، جِايٓءَ)

**نومونه:** ۱- **مد متصل:** ځکه په یوه کلیمه کې دی. ۲- **مد واجب:** ځکه په اتفاق د قراوو دی.

ketabton.com - The Digital Library



• **دويم) مد منفصل:** چې تر حروف مده وروسته (همزه) راسي. درې شرايط به لري: ۱- په جلا كليمه كې به وي. ۲- د مد علامه به يې باريكه وي. ۳- همزه به يې د لكړې په شان وي. مثلاً: (اِنَّآ اَعْطَينٰكَ).

**نومونه: ۱ـ منفصل:** ځكه چې په جلا كليمه كې دى. **۲ـ جائز:** ځكه چې د قاريانو پكې اختلاف دى.

## نهه دېرشم درس

## د مـــــد بحث

• **دريیم) مد، لازمي، كلمي، مثقل.** چې تر حروف مده وروسته مشدد حرف راسي. شرايط: ۱- په همدې كليمه كې به وي. ۲- مشدد به وي. مثلاً: (وَلَاالضَّآلِّيْنَ). نوم: (**مد، لازمي، كلمي، مثقل**). مد ځكه ورته وايي چې اواز كشېږي. لازمي ځكه ورته وايي چې حرف مد موجود دى. كلمي ځكه ورته وايي چې په يوه كليمه كې دى. مثقل ځكه ورته وايي چې مشدد دى.

• **څلورم) مد، لازمي، كلمي، مخفف.** چې تر حروف مده وروسته مخفف حرف راسي. شرايط: ۱- ساكن به وي. ۲- سكون به يې اصلي وي. مثلاً: (آلْئٰنَ). نوم: (**مد، لازمي، كلمي، مخفف**). مد ځكه ورته وايي چې اواز كشېږي. لازمي ځكه ورته وايي چې حرف مد موجود دى. كلمي ځكه ورته وايي چې په يوه كليمه كې دى. مخفف ځكه ورته وايي چې ساكن دى.

ketabton.com - The Digital Library



**قاعده:** په قرآن شریف کې **۱۴** حروف دي چې حروف (**مقطعات**) ورته وايي؛ ځکه په لفظ او معنا کې له نورو حروفو څخه جلا دي. مجموعه یې: (**من قطعک صله سحیرا**).[1]

**تنبیه: الف:** تر حرف مد وروسته نه سي راتلای. بیا التقاء ساکنین راځي. پاتې دیارلس حروف بیا پر دوه ډوله دي: **۱-** دوه حرفیز لکه (**ها حا طا**). **۲-** درې حرفیز لکه (**میم نون**).[2]

د دوه حرفیز لپاره قاعده نسته او د درې حرفیز لپاره راتلونکې قاعدې دي.

• **پنځم) مد، لازمي، حرفي، مثقل:** چې تر حروف مده وروسته یو حرف د حروفو مقطعاتو درې حرفیزو څخه راسي او مشدد وي. مثال: (**آلـــــمّ**). **شرایط: ۱-** له حروفو مقطعاتو څخه به وي. **۲-** درې حرفیز به وي. **۳-** مشدد به وي. نوم: (**مد، لازمي، حرفي، مثقل**). (**مد**) ځکه ورته وايي چې اواز پرې کشیږي. لازمي ځکه ورته وايي چې حرف مد موجود دی. حرفي ځکه ورته وايي چې د حروفو مقطعاتو څخه دی او مثقل ځکه ورته وايي چې مشدد دی.

• **شپږم) مد، لازمي، حرفي، مخفف:** چې تر حروف مده وروسته یو حرف د حروفو مقطعاتو څخه راغلی وي او ساکن وي. مثال: (**آلمّر**). شرایط: ۱- له حروفو مقطعاتو څخه به وي **۲-** درې حرفیز به وي.**۳-** او ساکن به وي. نوم: (**مد لازمي، حرفي، مخفف**) مد... لازمي... حرفي...مخفف ځکه ورته وايي چې ساکن دی.

---

(۱) فوائد مکیه، ص ۴۸.

(۲) فوائد مکیه، ص ۴۸.

ketabton.com - The Digital Library



• **اووم) مد، لازم، حرفي:** په حروفو مقطعاتو کې هغه درې حرفیز حروف چې په مابین کې حرف مده وي. مثال: (نُوَنَ، مِیَمَ صَآدَ). نوم: (**مد لازمي- حرفي**) مد لازمي- حرفي.

• **اتم) مد، لازمي، لین، حرفي:** هغه په حروفو مقطعاتو کې د (ع) لفظ دی. مثال: (کٓهیٰعٓصٓ). نوم: (**مد، لازمي،لین، حرفي**) مد... لازمي... حرفي...لین؛ ځکه ورته وایي چې مدلین پرکېږي.

• **نهم) مد، عارض، وقفي:** چې ترحرف مد وروسته سکون عارضي راسي. نوم: (**مد، عارض، وقفي**). مد عارض ځکه ورته وایي چې ساکن سو. وقفي ځکه ورته وایي چې د وقف په خاطر ساکن سو. مثال: (**رحیم، رجیم، کریم**) چې پر میم وقف بالاسکان وسي.

**فایده:** په مد عارض وقفي کې درې درجې دي: (**طول، توسط، قصر**).

طول: درې الف. توسط: دوه الف. قصر: یوالف. دلته اولٰی طول بیا توسط او بیا قصر دی.[1]

• **لسم) مد، عارض، لین:** (**واو**) او (**یا**) ماقبل مفتوح. مثال: (صَیْفَ، خَوْفَ، عَیْنَیْنْ).

نوم: (**مد، عارض، لین**). مد عارض لین؛ ځکه ورته وایي چې پر لین وقف وسي.

**فایده:** په مد عارض-لین کې هم درې درجې دي: (**طول، توسط، قصر**)خو اولٰی یې قصر دی، بیا توسط بیا طول.

---

(۱) فوائد مکیه، ص ۴۹.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** ولې په مد عارض وقفي کې طول اولٰی دی او په مد عارض لین کې بیا قصر؟

**جواب:** په مد عارض وقفي کې عین مد موجود دی او په مد عارض لین کې شبهه مد موجود دی.[۱]

- **یوولسم) مد فرق:** چې دوې همزې راسي، دویمه همزه وصلي وي او هم مفتوحه؛ نو دویمه همزه به په حرف مد بدلېږي. مثال: (آلله. آلذَّکَرَیْنَ) او مد فرق ځکه ورته وایي چې د جملې (**انشائیي او خبریي**) تر منځ فرق راولي.[۲]

- **دوولسم) مد تفخیم:** داسې ځای مد وسي چې د باطلو خدایانو نفې په راسي. مثال: (لَآ اِلٰهَ اِلَّاالله).

**قاعده:** د الف لپاره درې حالتونه دي: ۱- تر ۹ حروفو وروسته ډک ویل کېږي. حروف: (**مستعلیه، راءمفتوحه، لام جلاله**). ۲- نور تر ټولو حروفو وروسته تش ویل کېږي.

(۱) فوائد مکیه، ص ۴۹.

(۲) فوائد مکیه، ص۹٦.

ketabton.com - The Digital Library



## څلوېښتم درس

# وقف

د وقف د بیان مخکې (۵) شیان پېژندل ضروري دي:[۱]

**۱:تعریف، ۲:ثبوت، ۳:حکم، ۴:محل، ۵:اقسام**

**۱ . تعریف:** په **لغت** کې مطلق (**دریدل**) او په **اصطلاح** کې (**قطع الصوت مع النفس، اسکان الحرف متحرک ان کان متحرکاً**).

ترجمه: له اواز سره د ساه پرېکول او متحرک حرف ساکن کول که متحرک و.

**۲ . ثبوت:** په آیت، حدیث، اجماع او قیاس سره.

← **اول- آیت:** له حضرت علي (رضی الله عنه) څخه یو صحابي د ترتیل د معنا پوښتنه وکړه: (**الترتیل ماهو؟**)

حضرت علي (رضی الله عنه) جواب ورکړ: (**الترتیل هو تجوید الحروف و معارفة الوقوف**).

← **دویم- حدیث:** حضرت عبدالله ابن عمر (رضی الله عنه) وایي چې پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) به د نورو قواعدو تر څنګ په تلاوت کې د وقفو ځایونه هم راښودل.

← **درېیم- اجماع:** هغه وخت چې حضرت علي (رضی الله عنه) د ترتیل معنا

---

(۱) جمال القرآن، ص ۹۴. فوائد مکیه، ص، ٥٦. انعام التجوید، ص ۱۳۰.

ketabton.com - The Digital Library



وکړله، په دغه وخت کې ډېر صحابه کرام رضی الله عنهم ناست وو ټولو سکوت وکړ او چوپه خوله پاتې سول.

← **څلورم-قیاس:** د هر انسان عقل دا فیصله کوي هر شی چې ابتداء لري نو انتها هم لري.

**۳ . د وقف حکم:** قاري به اواز او ساه دواړه قطع کوي.

**۴ . د وقف محل:** د کلیمې پای.

**۵ . د وقف اقسام:**

اول- د رموز په اعتبار وقف.

دویم- د موقوف علیه د حرکت په اعتبار وقف.

دریيم- د معنا او محل په اعتبار وقف.

څلورم- د قاري او تالي په اعتبار وقف.

**قاعده:** هغه کسان چې د قرآنکریم په ترجمه نه پوهېږي باید په رموزو باندې وقف وکړي.

ketabton.com - The Digital Library



## یو څلوېښتم درس

# د رموزو په اعتبار وقف

د رموزو په اعتبار وقف پر پنځه ویشت ډوله دی:

۱ . کله (**میم**) لیکلی وي دا (**وقف لازم عرفي**) دی، نه شرعي. مثال: سورة القلم (۴۸) آیت

۲ . کله کوچنی (**ط**) لیکلې وي دې ته (**وقف مطلق**) وایي معنا یې تېرېدل او درېدل یو رقم دي. مثال: سورة البینة (۸) آیت

۳ . کله چې (**ج**) لیکلی وي دا د جائز په معنا دی، تېرېدل یې اولی دي او درېدل یې جواز لري. مثال: سورة القلم (۱۷) آیت

۴ . کله چې (**ز**) لیکلې وي دا د وقف جائز بالعکس دی درېدل یې اولی او تېرېدل یې جائز دي. مثال: سورة الدهر (۲۱) آیت

۵ . کله چې (**ص**) لیکلی وي تېرېدل یې اولی دي او درېدل یې جائز دي. مثال: سورة القلم (۷) آیت

٦ . کله چې د دوو آیاتونو تر مینځ (**ګول**) علامه لیکلې وي دلته وقف کول حسن دي. مثال: سورة الناس (۱) آیت

۷ . کله چې (**صلي**) لیکلی وي معنا یې (**الوصل الاولی**) ده یعنې تېرېدل یې ښه کار دی او درېدل یې هم جائز دي. مثال: سورة یس (۴۷) آیت

ketabton.com - The Digital Library



۸ . کله چې (صل) لیکلی وي دا په اصل کې امر دی یعنې تېر سه خو امر د وجوب لپاره نه، بلکې استحبابي امر دی.

۹ . کله چې (لا) لیکلی وي دا پر دوه ډوله دی:

← که د دوو لیکو ترمنځ (لا) لیکلی و، دلته وقف نه کېږي او که وقف وسي بیا به ټوله جمله راګرځوي. مثال: په سورة یس (۴۷) آیت

← او که د دوو لیکو تر منځ (لا) لوړ لیکلی وي، هم به وقف نه کوي که یې وقف وکړ بیا به ټوله جمله نه راګرځوي. مثال: په سورة یس (۴۷) آیت

۱۰. کله چې (قف) لیکلی وي د دې معنا امر دی چې ودرېږه، خو امر یې استحبابي دی. مثال: په سورة یس (۵۸) آیت

۱۱. کله چې (ق) لیکلی وي دلته قراء مختلف دي ځینې وایي چې (ق) د (قف) څخه مخفف دی یعنی وقف دې وسي او ځینې نور بیا وایي چې (ق) د (لایوقف) څخه مخفف دی یعنی وقف دې نه کېږي، لاکن اوله خبره صحیح ده چې وقف دې وسي. مثال: په سورة یس (۸۱) آیت

۱۲. کله چې (قلا) لیکلی وي دا د (قیل لا یوقف) څخه مخفف دی او (لا) یې نافیه دی نو مطلب یې دا دی چې وقف دې نه کېږي.

۱۳. کله چې (وقفه) لیکلې وي معنا یې لږ فرصت درېدل. مثال: په سورة القلم (۳٦) آیت

**قاعده:** د وقف او وقفه تر منځ فرق وقف مطلق درېدل او وقفه لږ وخت درېدل.

**پوښتنه:** سکته هم لږ وخت درېدلو ته وايي نو د سکتې او وقفه تر منځ څه فرق سته؟

ketabton.com - The Digital Library



**جواب:** په سکته کې اواز ختم سي او ساه جاري وي لکن په وقفه کې اواز او ساه دواړه ختمېږي.

۱۴. کله چې (ۛ) لیکلی وي دا د کوفي د قاریانو د آیت علامه ده.
مثال: سورة المزمل (۱۵) ایت

۱۵. کله چې (هـ) لیکلې وي د ابجد په حساب د دې معنا دا ده چې دلته پنځه ایته پوره سول.

۱۶. کله چې (ی) لیکلې وي دا د ابجد په حساب د لسو ایاتونو علامه ده.

۱۷. کله چې (ض) لیکلی وي دا د (ضرورالوقف) څخه مخفف دی معنا یې دا ده چې دلته دې حتماً وقف وسي.

۱۸. کله چې (ک) لیکلی وي دا د (کذالک) څخه مخفف دی چې د مخکې رمز څه حکم و، د ده هم هغه حکم دی.

۱۹. کله چې (وقف النبي) لیکلی وي مطلب دا دی چې په احادیثو کې د پیغمبر (ﷺ) څخه د وقف ثبوت سته. مثال:سورة النصر (۳) آیت

۲۰. کله چې (وقف جبریل) لیکلی وي، مطلب دا دی چې جبرائیل علیه السلام په تلاوت کولو کې و، پیغمبر (ﷺ) ته پر دغه ځای وقف کړی و. مثال: سورة ال عمران (۹۴) آیت

۲۱. کله چې (وقف غفران) لیکلی وي د دې مطلب دا دی چې د دغو ایاتونو مضمون د بخښنې دی. مثال: سورة یس (۸۱) آیت

۲۲. کله چې (وقف منزل) لیکلی وي د دې مطلب دا دی چې

ketabton.com - The Digital Library



قرآنکریم په اووه منزله ترتیب سوی دی. مثال: سورة یس (۵۲) آیت

۲۳. کله چې (**وقف معانقه**) لیکلی وي، معنا یې غاړه په غاړه. کیفیت یې داسې دی چې که (**ج**) لیکلی و او درې ټکي یې پر سر ورکړل سوي وو او بیا درې لفظه وروسته بل (**ج**) لیکلی و او پر سر یې درې ټکي وو نو د اداء کیفیت یې داسې دی چې پر هر یوه وقف وکړل سي پر هغه بل به وقف نه کېږي. مثال: سورة القلم (۴۰) آیت

۲۴. کله چې (**ځو علامې سر پر سر**) لیکلې وي مطلب یې دا دی چې دلته د راویانو اختلاف دی او ترجیح یې د سر علامې ته ورکول کېږي. مثال: سورة المومنون (٦٧) آیت

۲۵. او که پر (**واو**) عاطفه وقف وکړل سي، بیا جمله را گرځول نه غواړي.

**قاعده:**

**اول:** وقف پر (**گول**) علامه اولی دی.

**دویم:** پر (**م**).

**درېیم:** پر (**ز**).

**څلورم:** پر (**ط**).

**قاعده:**

هغه خلک چې د قرآن عظیم الشان په معنا نه پوهېږي باید پر دغه علامو وقف وکړي او که بغیر د علامې یې وقف وکړ هغه جمله به بیا له سره را گرځوي.

ketabton.com - The Digital Library



**قاعده:**

کله کوچنی لام راځي، دا دوه ډوله دی:

• **اول** که د آیت د علامې پر ځای لیکلی و او د آیت علامه نه وه، نو دغه (**لام**) یې پر ځای دی. قانون دا دی چې وقف کول صحیح نه دي. که یې وقف وکړ بیا به جمله له سره راګرځوي.

• **دویم** که د آیت پر سر لیکلی و، بیا قانون دا دی چې وقف دې نه کوي که یې وکړ بیا دې جمله له سره نه را ګرځوي.

## دوه څلوېښتم درس

## د موقوف علیه د حرکت په اعتبار وقف پر اته ډوله دی:

۱ . **وقف بالاسکان:** چې د پای حرف داسې ساکن کړل سي چې بوی د حرکت لا پاتې نه سي او وقف بالاسکان په پنځو حرکتونو کې کېږي: (**ضمه، فتحه، کسره، دوې ضمې او دوې کسرې**) او پر دوو (**فتحو وقف بالاسکان نه سي کېدای**) ځکه دلته ابدال کېږي.

۲ . **وقف بل ابدال:** پر دوه زوره او تای مدوره باندې کېږي، دوه زوره په الف بدلیږي، مثلاً: (افواجاً او فتحاً) او تای مدوره په هاء بدلیږي، مثلاً: (الصلاة).

ketabton.com - The Digital Library



۳ . **وقف بالروم:** چې د حرکت دوې حصې پټې او یوه حصه یې ښکاره کړي، مثلاً: (الرحمن الرحیم) او وقف بالروم پر څلورو حرکتونو کېږي: (ضمه، کسرة، دوې ضمې او دوې کسرې).

**قاعده:**

وقف بالروم په فتحه کې نسي کېدلای ځکه چې د فتحې د اداء په وخت کې شونډې خلاصې وي، چې شونډې خلاصې وي بیا دریمه حصه نه راکنټرولېږي.

۴ . **وقف بالاشمام:** اشمام بوی کولو ته وایي.

**تعریف:** (عین اسکان وروسته تر سکون چم د حرکت) قاري اخرینی حرف داسې ساکن کړي چې صرف یې د حرکت بوی پاتې وي. مثلاً (نستعین) او اشمام پر دوو حرکتونو کېږي (یوه ضمه او دوې ضمې).

۵ . **وقف بالسکون:** اخرینی حرف اصلاً ساکن وي، خو د یو عارض په وجه حرکت ورکړل سوی وي چې وقف پر وسي بېرته اصل ته ولاړ سي، مثلاً (علیهم الذلة) چې پر میم وقف وسي نو ساکن به سي او مخکې هم ساکن و، خو د التقاء ساکنین په وجه حرکت ورکړل سوی و.

٦ . **وقف بالالحاق:** په وقف کې اخرینی حرف وي او په وصل کې نه وي، مثلاً د (اقیموا) واو دلته واو په وصل کې نه ویل کېږي.

۷ . **وقف بالاثبات:** اخرینی حرف په مخرج او صفاتو کې ثابت پاتې سي، مثلاً (من جوع) اکثره خلک اخرینی حرف یا ناقص وایي یا یې نه اداء کوي دا دواړه ډوله لحن جلي راځي.

۸ . **وقف بالحذف:** چې د وقف پر خاطر اخرینی حرف له منځه ولاړ سي، مثلاً (له) د له صله د منځه ولاړه.

ketabton.com - The Digital Library



**تنبیه:** بعضې خلګو د موقوف علیه د حرکت په اعتبار وقف پر لس قسمه کړی خو موږ په اتو قسمو کې را واخیست.

د دوی لپاره مو اول جواب دا دی چې پاتې دوه قسمونه په دغو اتو قسمونو کې داخل دي او دویم جواب مو دا دی چې په هغو دوو قسمو کې زموږ روایت نسته هغه د امام حمزه کوفي رحمه الله روایت دی. هغه دوه قسمونه دا دي (وقف بالنقل) مثلاً (من امن) او دویم (**وقف ادغام و ابدال**) مثلاً (شیاً).

**تنبیه:** (**وقف بالروم او وقف بالاشمام**) پر عارضي حرکت باندې نه کېږي.

**قاعده:** که د کلیمې اخرینی حرف مشدد و، نو په وقف بالروم او وقف بالاشمام کې به همداسې مشدد پاتې کېږي.

**قاعده:** که قاري پر دوو ضمو یا دوو کسرو وقف بالروم وکړي، نو د حرکت درېیمه حصه به ښکاره او د تنوین درېیمه حصه به نه ښکاره کوي، مثلاً (احدٌ) (بصیر) یوه ضمه د دوو ضمو او یوه کسره د دوو کسرو اصل دی، نو دلته هم اصل ته ورګرځي.

ketabton.com - The Digital Library



## دري څلوېښتم درس

# د قاري په اعتبار وقف په څلور ډوله دی

**۱ . اضطراري وقف:** د یو عارض په وجه قاري وقف وکړي، لکه ټوخی یا پرچی...

**۲ . انتظاري وقف:**

- قاري د یوې قاعدې په انتظار کې وي، وقف وکړي.
- د استاد تلاوت ته شاګرد انتظار وي چې پر کوم ځای وقف کوي.
- استاد د شاګرد په انتظار وي چې شاګرد هغه ځای ته ځان رسوي که نه چې ما پرې وقف کړی.

**۳ . اختیاري وقف:** چې قاري په خپل اختیار وقف وکړي.

**۴ . اختباري وقف:** چې شاګرد تلاوت کوي او استاد د غلطۍ خبر ورکړي او دی وقف وکړي یا استاد د یوې قاعدې د ښودلو په خاطر وقف وکړي.

**قانون:** په یادو څلورو ځایونو کې که وقف وسي ساه او اواز به دواړه قطع کوي، خو جمله به بېرته له سره راګرځوي.

ketabton.com - The Digital Library



## څلور څلوېښتم درس

# د معنا په اعتبار وقف پر شپږ ډوله دی

**۱ . تام وقف:** چې پر داسې ځای وقف وکړل سي چې له مابعد سره یې لفظي او معنوي تعلق ختم وي، مثلاً (المفلحون)، سورة البقره (۵) آیت.

**۲ . کافي وقف:** پر داسې ځای وقف وکړل سي چې له ماقبل سره یې لفظي تعلق ختم او له مابعد سره یې معنوي تعلق پاتې وي، مثلاً (الحمدلله) د الله جل جلاله پر لفظ چې وقف وسي.

**۳ . حسن وقف:** پر هر آیت وقف وکړل سي؛ ځکه پیغمبر (ﷺ) به هم د فراغت پر وخت داسې تلاوت کاوه.

**۴ . صحیح وقف:** چې پر رموزو وقف وکړل سي.

**۵ . قبیح وقف:** چې پر داسې ځای وقف وکړل سي چې له ماقبل سره معنوي او له مابعد سره لفظي تعلق پاتې وي، مثلا (یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنتُمْ سُکَارَىٰ) کله چې پر صلاة وقف وکړې، نو د صلاة لفظي تعلق له مابعد سره پاتې دی ځکه (وَأَنتُمْ) جمله حال ده، د ماقبل د (لَا تَقْرَبُوا) له ضمیر څخه.

**٦ . اقبح وقف:** پر داسې ځای وقف وکړل سي چې له ماقبل سره لفظي او معنوي تعلق پاتې وي. داسې وقف حرام دی، مثلاً (وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ) (**اولئک**) اسم اشاره مبتدا ده، (**هم**) ضمیر مبتدا یې ثاني دی المفلحون

ketabton.com - The Digital Library



معرفه په واو سره د (**هم**) خبر دی. خبر سره د مبتداء دا به د (**اولٰئِکَ**) لپاره خبر سي، نو د دوی په مابین کې وقف کول حرام دي.

**قاعده:** که پر حرف مده وقف وکړل سي، نو دلته یوازې قصر روا دی، طول او توسط جائز نه دي. ځکه طول او توسط تر حرف مد وروسته سکون عارضي غواړي، خو هغه دلته نسته، مثلاً (غفورا).

**قاعده:** په قران کریم کې د امام حفص رحمه الله د روایت مطابق څلور ځایه سکته کبري.[1]

**سکته:** په لغت کې لږ وخت دریدلو ته وایي او په اصطلاح کې (قطع الصوت بلانفس). معنا: له ساه پرته د اواز پرېکول.

۱ . په سورة یٰس کې (۵۲) آیت د (مِنْ مَرْقَدِنَا هَذَا) پر الف.

۲ . په سورة کهف کې (۱-۲) آیت د (عِوَجَاً * قَيِّمًا) پر الف.

۳ . په سورة قیامة کې (۲۷) آیت د (وَقِيلَ مَنْ رَاقٍ) پر نون.

۴ . په سورة مطففین کې (۱۴) آیت (كَلَّا بَلْ رَانَ) پر لام.

له دغو ځایونو پرته د امام حفص رحمه الله په روایت کې بل ځای سکته نسته بعضې ناخبره کسانان یوازې په الحمدلله کې اووه ځایه سکته کوي، خو امام جزري رحمه الله د دغو کسانو قول غلط فاحش بولي چې هغه اووه ځایونه دا دي: (**دلل، هرب، کیو، کنع، کنس، تعل او بعل**).[2]

**پوښتنه:** د (عِوَجَاً * قَيِّمًا) تنوین ولې په الف بدل سو؟

---

(۱) شرح فوائد المکیه، ص ۲۸۸ او معلم التجوید، ص ۲۱٦.

(۲) معلم التجوید، ص ۲۱۸.

ketabton.com - The Digital Library



**جواب:** سکته په ټولو اقسامو کې د وقف مشابه ده، ځکه یې تنوین په الف بدل کړی.

**پوښتنه:** په (مَنْ رَاقٍ) کې ولې ادغام نه دی سوی، خو د يرملون حرف هم راغلی او په (كَلَّا بَلْ رَانَ) کې ولې ادغام نه دی سوی؛ ځکه لام او را خو متقاربين دي؟

**جواب:** ادغام خو د وصل په حالت کې کېږي، خو سکته د وقف مشابه ده.

**قاعده:** سکته پر دوه ډوله ده:

۱ . **لفظي:** چې تر ساکن حرف وروسته متحرکه همزه راسي نو د همزې د صفا اداء کېدو لپاره به پر ساکن حرف سکته کېږي.

۲ . **معنوي:** مذکوره څلور ځایونه چې مخکې تېر سول.

---

## پنځه څلوېښتم درس

# لهجه

**لهجه:**[۱] نغمې او خوش اوازی ته وايي.

لهجه پر دوه ډوله ده:

۱ . **جايزه لهجه:** د تجويد قواعد چې په کې مراعات کړي.

**ثبوت:** عن أبي لبابة بشير بن عبد المنذر رضي الله عنه: أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «مَن لَم يَتَغنَّ بِالقُرآنِ فَليسَ مِنَّا».

**ثبوت:** عَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «حَسِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ فَإِنَّ الصَّوْتَ الْحَسَنَ يَزِيدُ الْقُرْآنَ حُسْنًا».[۲]

---

(۱) انعام التجويد، ص ۵۲ او فوائد مکيه، ص ۶۳.

(۲) رواه ابن ماجه، رقم ۱۳۴۲.

ketabton.com - The Digital Library



**ثبوت:** عَن ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ حِلْيَةً , وَحِلْيَةُ الْقُرْآنِ حُسْنُ الصَّوْتِ ».

**۲ . ناجایزه لهجه:** قاري خپل د لهجې مرعات ساتي نه د تجوید د قواعدو.

**ناجایزه لهجه پر دوه ډوله ده:**

**۱ . حرامه لهجه:** مخارج او صفات لازمه پرېږدي یا تغیر ورکړي.

**۲ . مکروه لهجه:** صفات عارضیه پرېږدي یا تغیر ورکړي.

**حسنه لهجه پر شپږ ډوله ده:**[1]

**۱ . ترتیل التلاوة:** نه ډېر چابک او نه ډېر کرار.

**۲ . تجوید تلاوة:** د حروفو، صفاتو او مخارجو مراعات کول.

**۳ . تبیین التلاوة:** استاد شاګرد ته د قواعدو اظهار کوي.

**۴ . ترسیل التلاوة:** په تلاوت کې د لحن جلي او خفي څخه ځان ساتل.

**۵ . تحسین التلاوة:** هغه ده چې مخارج او صفات اداء کړي او لهجه یې د عربو لهجې ته ورته وي.

**ثبوت:** قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (ﷺ): «اقْرَءُوا الْقُرْآنَ بِلُحُونِ الْعَرَبِ وأَصْوَاتِها».[2]

**٦ . توقیر التلاوة:** په تلاوت کې له الله جل جلاله څخه وېره لري چې غلطي راڅخه ونسي، مخارج او صفات صحیح اداء کوي.

ناجایزه لهجه د لهجې په وجه د قواعدو نه مراعاتول.

---

(۱) انعام التجوید، ص ۱۵۴.

(۲) کنزالعمال، ج ۱، ص ۲۰۱.

ketabton.com - The Digital Library



## شپږ څلویښتم درس

## د معیوبو تلاوتونو اقسام

| شماره | ډول | تشریح | حکم |
|---|---|---|---|
| ۱ | تمطیت التلاوت | چې په حروفو کې زیادت راسي | حرام |
| ۲ | تخلیت التلاوت | چې د یو حرف میلان بل حرف ته وسي | مکروه |
| ۳ | تمفیش التلاوت | چې حرکات مجهول وویل سي | مکروه |
| ۴ | تمزیخ التلاوت | چې د تلاوت په وخت کې خوله ژوبي | مکروه |
| ۵ | تتمید التلاوت | چې د مد اواز پوزې ته بیایي | مکروه |
| ٦ | تهمین التلاوت | چې د وقف په وخت کې همزه پیدا کړي | حرام |
| ۷ | تعویق التلاوت | چې د کلیمې په منځ کې وقف وکړي | حرام |
| ۸ | ترخص التلاوت | چې په اواز کې یو ډول شرنګی کوي | مکروه |
| ۹ | ترعید التلاوت | چې د مد په وخت کې اواز ښورووي | مکروه |
| ۱۰ | تتعید التلاوت | په ډول ډول لهجه سره تلاوت کوي | مکروه |
| ۱۱ | تحریز التلاوت | چې داسې تلاوت کوي لکه غم چې وي | مکروه |
| ۱۲ | تقطع التلاوت | چې په تلاوت کې بې ځایه سکتې کوي | حرام |

ketabton.com - The Digital Library



| شماره | نوم | تشریح | حکم |
|---|---|---|---|
| ۱۳ | ترجیح التلاوت | په تلاوت کې اواز د پوزې خوا ته بیایي | مکروه |
| ۱۴ | تحریص التلاوت | چې یو حرف یې لا نه وي پوره کړی په بل حرف شروع وکړي | حرام |
| ۱۵ | تفخیم التلاوت | چې ټول حروف ډک وایي | حرام |
| ۱۶ | ترقیق التلاوت | چې ټول حروف باریک وایي | حرام |
| ۱۷ | وحبة التلاوت | چې په تلاوت کې ډېره چابکي کوي | مکروه |
| ۱۸ | انعنة التلاوت | چې د ډېر ډک والي څخه د عین اواز پیدا کېږي | حرام |
| ۱۹ | همهمة التلاوت | چې مخفف مشدد کړي یا مشدد مخفف کړي | حرام |
| ۲۰ | زمزمة التلاوت | چې تلاوت د غزلو په شکل کوي | حرام |
| ۲۱ | رقزة التلاوت | چې ځای د ادغام نه وي، دی ادغام وکړي | حرام |
| ۲۲ | لینیة التلاوت | ټول حروف نرم وایي | مکروه |
| ۲۳ | الجاز تلاوت | چې حروف مده غورځوي. | حرام |
| ۲۴ | نفرة التلاوت | چې تلاوت د جنګ په شکل کوي | مکروه |
| ۲۵ | عدب التلاوت | چې ابتداء او انتها یې نه معلومېږي | مکروه |

ketabton.com - The Digital Library



| شماره | ډول | تشریح | حکم |
|---|---|---|---|
| ۲٦ | قلقلة التلاوت | ماسیوا د حروفو قلقله وو څخه پر نورو قلقله کوي | مکروه |
| ۲۷ | زیادت التلاوت | چې مد تر خپلې اندازې زیاتوي | مکروه |
| ۲۸ | تطویل التلاوت | چې حرکتونه کشوي | مکروه |
| ۲۹ | نقص التلاوت | چې حرکتونه مجهول وایي | مکروه |
| ۳۰ | تعجیل التلاوت | چې تلاوت ډېر چابک کوي حرف وغورځوي | حرام |
| ۳۱ | بحه التلاوت | په اواز کې سختي او غمګیني وي | مکروه |

**تنبیه:** په دغو ارقامو کې که قاري هر رقم تلاوت کوي، د قاري او اورېدونکي دواړو یو رقم حکم دی.

**تنبیه:** له دغه رقم تلاوتو نو سره مخ کېدل اول خپلې لهجې ته اولویت ورکول او یو ډول بې فکري ده.

ketabton.com - The Digital Library



## اووه څلوېښتم درس

## متفرقه قواعد

**پوښتنه:** صحیح قاري چا ته ویل کېږي؟

**جواب:** هغه قاري ته ویل کېږي چې دا څلور شرایط یې عملي کړي وي:

۱. په پوره توګه یې د تجوید ټوله قواعد مراعات کړي وي.

۲. لهجه به یې د عربو لهجې ته ورته وي.

۳. په عامو محفلونو کې به د متواتر روایت چې د (امام حفص بن عاصم رحمه الله) روایت دی پیروي کوي؛ ځکه چې عام خلک مشوش نه سي.

۴. صحیح قاري به د خپل استاد سند او اجازه نامه په لاس کې لري.[1]

**غوښتنه:** محترمو قاري صاحبانو اول تجوید مکمل زده کړئ، بیا روایات او مقامونه.

**پوښتنه:** تکبیرونه له کوم ځایه تر کوم ځایه پورې ویل کېږي؟

**جواب:** د سورة (**والضحٰی**) څخه بیا تر سورة (**والناس**) پورې به د هر سورت په سر کې له (**الله اکبر**) سره (**بسم الله**) وایي.

**قاعده:** له (**الله اکبر**) دویم (**لااله إلا الله والله اکبر**) بهتره دا دویم دی.

**تنبیه:** د قرآن کریم د خاتمې ثبوت: «قال رجل: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ؟ قَالَ: الْحَالُّ الْمُرْتَحِلُ. قَالَ: وَمَا الْحَالُّ الْمُرْتَحِلُ؟ قَالَ: الَّذِي يَضْرِبُ مِنْ أَوَّلِ الْقُرْآنِ إِلَى آخِرِهِ كُلَّمَا حَلَّ ارْتَحَلَ».

---

(۱) انعام التجوید، ص ۱۵۵.

ketabton.com - The Digital Library



**قاعده:** د خاتمې کیفیت: اول دې معاوذتین بیا الحمدلله او سورة البقره تر (**المفلحون**) لفظ پورې ووایې، بیا دې خاتمه ووایي. خاتمه یعنې دعا نو کوم ضمائر چې د مفرد لپاره وي په مجلس کې دې د جمع په ضمیر بدلوي. مثلاً: (**اللّٰهم انس وحشتي في قبري**) پرځای یې باید (**اللهم انس وحشتینا في قبوریناآه**).[۱]

## اته څلویښتم درس

## متفرقه قواعد

**پوښتنه:** جما ل القرآن یې ولې پر څوارلسو روښناییو مشتمل کړی؟

**جواب:** تشبیه یې له سپوږمۍ سره ورکړه؛ ځکه چې د سپوږمۍ روښنایي هم د څوار لسم په شپه پوره کېږي.[۲]

**پوښتنه:** په قران کریم کې څلور ځایه د (**صاد**) پر سر کوچنۍ (**س**) لیکلی وي دلته به کوم یو ویل کېږي؟

**جواب:** په دوو ځایونو کې به په سین سره ویل کېږي. ۱- (**یبصط**) په سورة البقره کې. ۲- (**بصطة**) په سورة الاعراف کې. ۳- (**المصیطرون**) په سورة الطورکې دلته په صاد اوسین کې اختیار دی. ۴- اوپه سورة الغاشیة کې چې لفظ د (**بمصیطر**) دې دلته په صاد سره ویل کېږي.[۳]

---

(۱) انعام التجوید، ص ۱۶۹.

(۲) جمال القرآن، ص ۱۲.

(۳) جمال القرآن، ص ۱۰۸.

ketabton.com - The Digital Library



**قاعده:** په سورة حم السجده کې يو ځای تسهيل کېږي. مثال: (ءاعجميٌّ) دلته پر دويمه همزه تسهيل کېږي، يعنې د همزه او الف تر منځ اداء کېږي.[1]

**قاعده:** هرکله که واو او يا مشدد وه او وقف پرې وسو، نو شد اداء کول به يو څه په سختی سره پکار وي؛ څو شد پر خپل حال پاتې سي. مثال: (عدوٌّ، على النبىّ).[2]

**قاعده:** په قران کريم کې يو څو ځايه (لا) ليکلي دي؛ مگر ويل کېږي (ل).[3]

۵ . په سورة آل عمران کې د (لإِالَى الله تُحْشَرُونَ). کليمه ده.

٦ . په سورة التوبه کې د (ولأ او ضعوا) کليمه ده.

۷ . په سورة والصفت کې د (لإِ الَى الْجَحِيم) کليمه ده.

۸ . په سورة الحشر کې د (لَا انْتُمْ اَشَدّ) کليمه ده.

۹ . په سورة النمل کې د (اولا أذ بحنَّه) کليمه ده.

۱۰. د سورة آل عمران په پنځلسمه رکوع کې (افائن) ليکلي دي، مگر ويل کېږي (افئن).[4]

۱۱. د سورة الكهف په خلورمه رکوع کې (لشاىءٍ) ليکلي دي؛ مگر ويل کېږي (لشيىءٍ).[4]

۱۲. کله (نباىءٍ) ليکلی وي، خو ويل کېږي (نبىءِ).[4]

---

(۱) جمال القرآن، ص ۹۲.

(۲) جمال القرآن، ص ۱۰۸.

(۳) جمال القرآن، ص ۱۰۹.

(۴) جمال القرآن، ص ۱۰۹.

ketabton.com - The Digital Library



**فایده:** دسورة الكهف په پنځمه رکوع (لٰكِنَّا هُوَ الله) يعني لٰكنا كې چې كوم الف ليكلى دى، دا هم نه ويل كېږي مگر په وقف كې ويل كېږي.[۱]

**فایده:** د سورة الدهر په اول كې (سَلَاسِلا) داد دويم لام وروسته الف نه ويل كېږي، مگر په وقف كې ويل او نه ويل دواړه صحيح دي.[۲]

**فایده:** دسورة الدهر (قواْريرا قوايراْ) دلته دوه ځايه الف ليكلى دى قانون دا دى چې دا دويم الف نه په وصل نه په وقف كې ويل كېږي او اول الف په وقف كې ويل كېږي، نه په وصل كې.[۲]

**فایده:** په سورة يوسف كې د (مَالَكَ لَا تَأْمَنَّا عَلَى يُوسُفَ) دلاتأ منّا پر نون اشمام كېږي؛ ځكه دلته دوه نونان وه، اصل يې لا تأ مننا و اول مضموم او دويم مفتوح و بيا يې اول ساكن كړى او مد غم يې كړى.[۳]

**فایده:** هركله كه په واحد تلاوت كې دوه ځايه مدان منفصلان راسي، پر قاري يې تسويه واجب ده. مثال: (وَ قالُوا رَبَّناۤ إِنَّاۤ أَطَعْنا سادَتَن).

**فایده:** په سورة يوسف كې د (وليكوناً) كليمه او په سورة اقراء كې د (لنسفعاً) كليمه ده. كه پر (ليكوناً) او (لنسفعاً) وقف وكړي، نو په الف سره يې واياست يعني تنوين مه واياست، كه څه هم خلاف القياس دى.

**تنبيه:** د (انا) لفظ چې هر ځاى په قرآنكريم راسي د وصل په حالت كې يې (الف) نه ويل كېږي او د وقف په حالت كې ويل كېږي.[۴]، او همدارنگه (او

(۱) جمال القرآن، ص ۱۰۳.

(۲) جمال القرآن، ص ۱۰۴.

(۳) جمال القرآن، ص ۱۰٦.

(۴) جمال القرآن، ص۹۷.

ketabton.com - The Digital Library



**یعفوا**) د سورة البقرې په (۱۳) رکوع کې، (**ان تبوءا**) د سورة المائدې په (۵) رکوع کې، (**لتتلوا**) د سورة الرعد په (۴) رکوع کې، (**لن ندعوا**) د سورة الکهف په (۲) رکوع کې، (**لیربوا**) د سورة الروم په (۴) رکوع کې، (**لیبلوا**) د سورة محمد په (۱) رکوع کې، (**نبلوا**) د سورة محمد په (۴) رکوع کې، (**ثمودا**) څور ځایه د سورة هود، سورة الفرقان، سورة العنکبوت او په سورة النجم کې، (**قواریرا**) دوه ځایه د سورة الدهر په (۱) رکوع کې. په دغه الفاظو کې هم د وصل په حالت کې (الف) نه ویل کېږي او د وقف په حالت کې ویل کېږي[۱].

(۱) جمال القرآن، ص ۹۳.

ketabton.com - The Digital Library



## نهه څلوېښتم درس

# سجده تلاوت

په قرانکریم کې د (۱۴) آیتونو په ویلو او اورېدلو سره پر سړي سجده واجبېږي.

د سجده تلاوت څلور شرطونه دي: طهارت، سترالعورت، استقبال القیبله او نیت.

**تنبیه:** هر هغه شی چې لمونځ پرې فاسدېږي، په هغه شي سجده تلاوت هم فاسدېږي.

**د سجده تلاوت آیتونه:** په (۱۴) سورتونو کې دي: (اعراف آیت ۲۰۶- رعد آیت ۱۵ - نحل آیت ۵۰ و ۴۹ - اسراء آیت ۱۰۹ - مریم آیت ۵۸ - حج آیت ۱۸ و ۷۷ - فرقان آیت ۶۰ ـ نمل آیت ۲۵ و ۲۶ - سجده آیت ۱۵ - ص آیت ۲۴ و ۲۵ - فصلت آیت ۳۷ و ۳۸ - نجم آیت ۶۲ - انشقاق آیت ۲۰ و ۲۱ - علق آیت ۱۹.

**تنبیه:** که سجده تلاوت تکرار په مجلس واحد کې وسي یوه سجده یې کافي ده.

### د سجده تلاوت فضیلت

د أبي هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: «إذا قَرَأ ابنُ آدم السجدةَ فسجد اعْتَزَل الشیطانُ یبکي، یقول: یا وَیْلَه -وفي روایةٍ: یا وَیْلي- أُمِر ابنُ آدمَ بالسجودِ فسجدَ فله الجنة، وأُمِرتُ بالسجود فأبَیْتُ فلِيَ النارُ». [صحیح] - [رواه مسلم]

ketabton.com - The Digital Library


# توصية الاستاد

- یوازې د تجوید په زده کولو سره ځان کامل قاري مه بولئ، بلکې په هره ورځ کې معلوم وخت د تلاوت لپاره وټاکئ چې تلاوت پکې کوئ.
- ډېر کوښښ وکړئ، هر کله مو چې قران کریم په خپله زده کړ، بیا یې نورو ته هم ورسوئ.
- پر نورو خلکو انتقادونه مه کوئ.
- له علماوو سره راشه درشه زیاته کړئ، ځکه د الله جل جلاله رحمت له علماوو څخه نه جلا کېږي.
- کوښښ وکړئ چې ټولو هغو شیانو ته ځان نیږدې کړئ چې هغه درته الله تعالی دریادوي.
- ای تلاوت کوونکیه! نیت به دې خاص د الله جل جلاله د رضا لپاره وي.
- که څوک در څخه د تعلیم طلب وکړي، ممانعت یې مه کوه.
- کله چې تلاوت کوئ، نو کوښښ وکړئ چې اودس تازه کړئ او قبلې شریف ته مخامخ کښېنئ.
- ګرانو ورونو! په تلاوت کې به له چا سره مقابله نه کوئ.
- په داسې ځای کې تلاوت مه کوئ چې هلته نا اهله خلک وي، یا د فسق ځای وي او یا تلاوت ته څوک غوږ نه نیسي.

ketabton.com - The Digital Library



- محترم قاري صاحب! د عامو خلکو په مخ کې د قرائت روایتونه مه بیانوه څکه بیا خلک مشوش کېږي.
- گرانه تلاوت کوونکیه! تلاوت باید د قرآن کریم د مصحف شریف څخه وکړئ.
- که چا کوم شی درته تحفه کړ، ممانعت به یې نه کوې.
- د هیچا د درس په طریقه به نه لگېږې.
- گرانه تلاوت کوونکیه! وروسته تر تلاوت ما عاجز ته یوه دعاء هم وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

# د کتاب خاتمه

قدرمنو او عزتمندو لوستونکو!

هیله مند یم چې د (قرآن ترتیل په اسانه تجوید) کتاب په ویلو به مو څه ناڅه د قران کریم د تلاوت د زدکړې اړوند معلومات ترلاسه کړي وي، خو په ډېر درنښت سره که د کتاب په لیکنه، الفاظو او معنا کې کومه غلطي وي، لومړی یې له لوی، بخښونکي او مهربان الله جل جلاله څخه او ور پسې ستاسو څخه د پوره عفوې غوښتنه کوم او له تاسو څخه دا هیله کوم چې د هغې غلطۍ اصلاح وکړئ او یا یې موږ ته په ګوته کړئ؛ څو یې اصلاح کړو چې نور مسلمانان ورونه د قرآن کریم په صحیح تلاوت پوه شي.

ketabton.com - The Digital Library

# مأخذونه:


١ .صحیح البخاري، الامام ابي عبدالله محمد بن اسمعیل بن ابراهیم.

٢ .صحیح ترمذي شریف، الحافظ ابي عیسی محمد بن عیسي سورة الترمذي.

٣ .مشکوة المصابیح، الشیخ ولي الدین ابي عبدالله محمد بن عبدالله.

۴ .معارف القرآن، مفتي محمد شفیع صاحب.

۵ .تفسیر ایوبي، مولانا محمد عبیدالله الایوبي القندهاري.

٦ .کنزالعمال، العلامه علاءالدین علي المتقي بن حسام الدین الهندوي.

٧ .معلم التجوید، مولانا محمد شریف رحمه الله.

٨ .فوائد مکیه، مولانا عبدالرحمن مکي رحمه الله، فارسي، پښتو او اردو.

٩ .جمال القرآن، مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله (پښتو).

١٠. احکام التجوید، الدکتور محمد عصام مفلح القضاة.

١١. غاية المرید، خادم القرآن عطیه قابل نصر.

١٢. الؤلؤ والمرجان، قاري عبدالحی فورقانیار.

١٣. نهاية القول المفید.

١۴. انعام التجوید، الحاج قاري مولوي محمد عبدالهادي (ابو انعام).

١۵. حلبي کبیر.

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*